د ژوند په دښته کښې روان یمه څۀ د ہر یواځې
شګې شمېرم څۀ لېونے یم د جانان په لټون
جانان اوس ښار ته دے راغلے د صحرا د شګو
هغه شو پاتې اوس پسې شومه د ځان په لټون

# د ژوند په لاره د جانان په لټون

## امجد حسین ناصر

حقوق د مصنف په حق کښې محفوظ دي


| | |
|---|---|
| د کتاب نوم | د ژوند په لاره د جانان په لټون |
| لیکونکے | امجد حسین ناصر |
| چاپ (اول ځل) | ۲۰۱۵ء |
| کمپوزر | ارشاد خان (پښتو اکېډیمي) |
| شمېر | ۱۰۰۰ |
| پریس | |
| بیعه | روپۍ |


## د موندلو درکونه

- یاسین بُک سیلرز نادر مارکیټ درګۍ بازار
- الطاف موبائلز نادر مارکیټ درګۍ بازار
- پښتو اکېډیمي بُک شاپ پېښور یونیورسټي

# انتساب

د خپل ځواني مرګ پلار نوشېروان عادل په نامه چا چې د خپل زوئے نامه د هغۀ د زېږون نه وړاندې خوښه کړې وه خو د هغې نه مخکښې ئې د ملاکنډ په اديره کښې تل عمري سر د خاورو په بالښت کېښودو او د خپلو ارمانونو د تکميل ګران ازمېښت ئې هغه زوئے ته د مور په لړمانۀ کښې پرېښودو کوم چې لا تر اوسه خپل او د پلار د روح خوشحالولو په تکل کښې دے ......

ناصر

# د ژوند په لاره د جانان په لټون

## ( سرسري نظر )

ښاغلے امجد حسین ناصر دملاکنډ د سیمې درګئ سره تعلق لري۔ د پلار محترم نوم ئې نوشیروان عادل دے چې د ملاکنډ په یوه حادثه کښې په نومبر ۱۹۷۸ء کښې وفات شوے دے ۔ناصر صیب د پلار د وفات نه پس په اوومه جنورئ کال ۱۹۷۹ء کښې زیږیدلے دے۔ هر څو کۀ د پلار د سر سیورے ئې په سر نصیب نۀ شو ولې دې محنتي ځوان د ژوند ټولو ستونزو او کشالو ته لکه د ملاکنډ خپل سر هسک ونیوۀ او د تعلیم په میدان کښې ئې خپل سفر د خپل محنت په بدرګه کښې سر ته ورسوۀ۔



www.pukhto.net

هر څو کۀ ئې د تعليم سلسله هم د ستونزو سره مخ کېده او څو جماعته ئې په تانه ، ګل مقام ، ختکو شا او خرکي کښې اووئيل خو بيا ئې هم د درګۍ کالج نه ايف ايس سي وکړه ـ د بي اے او ايم اے انګلشن سندونه ئې د اسلاميه کالج پېښور نه د باقاعده طالب علم په حېث حاصل کړل او په کال ۲۰۰۷ء کښې د پبلک سروس کمېشن خېبر پښتونخوا په ذريعه په ګورنمنټ کالج يکه غونډ کښې د انګرېزي ژبې استاد مقرر شو چې تر دوؤ کالو خواؤ شا ئې دغه وظيفه ترسره کړه ولې خپل محنت ئې جاري ساتو او د C.S.S تياري ئې کوله او په کال ۲۰۰۸ء کښې ئې د C.S.S امتحان پاس کړو او په اډېټ اينډ اکاؤنټس ګروپ کښې راغے ـ په کال ۲۰۱۱ء ورته په A.G افس کښې ذمه وارۍ وسپارلې شوې او نن سبا په ائر فورس هيډ کوارټر پېښور ائربېس کښې د ډپټي کنټرولر په عهده خپل فرائض پوره کوي ـ

د سکول په زمانه کښې ئې د سردار علي ټکر په اواز د غني خان کلامونه اوريدل او په کال ۱۹۹۳ء کښې ئې ورمبے غزل ليکلے وو ـ چې داسې ئې د شعر ملکه په ذهن خوره شوې وه ـ او بيا په کال ۱۹۹۵ء کښې چې د درګۍ کالج طالب علم ؤ نو د يو ملګري جاوېد مخلص په واسطه ئې د ښاغلي رحمت شاه سائل صېب ، ښاغلي فېض محمد مظلوم صېب او



www.pukhto.net

ښاغلي صابر حجازي صيب سره ليدۀ کاتۀ وشو . چې ددۀ د ليکلو توان ته ئې نوره توانائي ور وبخښله.

دې ښاغلي چې څنګه د تعليم سفر جاري ساتلے دے. داسې ئې د ټول ژوند سفر انتهائي په محنت سره کړے دے. ددې نه وړاندې چې مونږ ددۀ شعري سفر ته ځير شو او د جانان د لټون هڅې ئې ووينو دا خبره به بې ځايه نۀ وي چې داسې ځوانان زمونږ د قام د نوي کهول دپاره بهترينه نمونه ده. ځوک چې په محنت او مشقت اعتقاد او اعتماد لري او د ژوند جانان له څنه سترګه کوي . بايد ټول زلمي داسې د داسې شمعو نه خپل ځان او ژوند له رڼا واخلي چې د ژوند د ناوې سترګې رڼې هم کړي او رڼا هم.

ښاغلے ناصر يو تعليم يافته زلمے دے . خپلې ژبې ، ادب ، قام او کلتور سره مينه لري او دليل ئې داد ے چې د خپل ډېر مصروف ژوند سره د خپلې ژبې خدمت کوي . د ژبې خدمت ورته ځکه وايم چې د دوئي شاعري يوازې د داخليت په رنګ کښې رنګ نۀ ده بلکې د خارجيت عکسونه هم لري او د خپل دور د ترجمانۍ حق هم ادا کوي . ددې دور د ستر فلسفي شاعر غني خان نه متاثره هم ښکاري او په کلام کښې ئې د هغه د شاعرۍ رنګونه هم ځليږي . اسلوب کښې ئې هم د هغه انداز ښکاري لکه ,, دنيا ،، او ,, هلته کښې ،، نظمونه ئې


www.pukhto.net

دغه خوند لري. دنیا نظم کښې د دنیا تصویر وړاندې کوي. دا لږه برخه ئې تاسو هم ولولئ.

چــا تــه روڼ د ســبا خــوب
چــا تــه ســخا زړه څپلـــې
چــا تــه ســخا ســیکه د زیـــړو
یـــا د ســـرو زرو اګـــې
چاتـــه کـــاڼي چـــا تـــه شـــګه
چاتــــه لال ګـــوهر ســــیپې
چاتـــه مـــور هســـې خـــوږه وي
څـــوک ئـــې ګڼـــي بـــده ســـپې
چـــا پـــه ســـر لکـــه راخستـــې
د خرشـــــنوډ کـــــه تـــوکرې
چـــا لـــه ښـــځه وي پـــودړه
چـــا لـــه ښـــکلې ښـــاپیرې

داسې په ,, هلته کښې ،، نظم کښې وائي :-

دلتـــه یـــوه هـــم نشـــته او هلتـــه کښـــې اویـــا بـــه وي
یـو تـهٔ چـې مـخ کومـه بـاقي ټولـو تـه مـې شـا بـه وي
څنګـه بـه دسـتور وي هلتـه څنـګ بـه ښـکلوۀ جانـان
څنګـه بـه مسـتي کـوۀ څنـګ د شـوق انتهـا بـه وي
څو ورځې خلوت کښې او څو ورځې به جلوت کښې یُو



www.pukhto.net

ورځ او شـــپه بــه وي او کــۀ نــه تشــه مشــغولا بــه وي
په دې رنګ کښې ئې زۀ او ژوند ، تالـه څۀ او مالـه څۀ ، ګپې
شپې ، ګډې وډې ، لټون ، ګلستان وغېره نظمونه هم خړوب
دي ـ غرض دا چې د دوئي نظم مجموعي طور د غني خان د
نظم نه متاثره ښکاري او د دې اعتراف په خپله هم کوي چې :-

زۀ ناصر چې پوئے په شعر شوم دا کمال خو د بابا وو
د بابا خيال او لفظونو خو ډک کړے مې د ے ديوان د ے

د غني خان د طنز انداز ئې دا سې په کلام کښې بربښي :-

د کاکــا د بـــې خونـدۍ بــه څــۀ ګيلـې کــړم
هغــه وختـــو ټپـــوس مـــا وئيـــل بـــاتور د ے

په غزل کښې ئې هم دغه رنګونه تاسو د نظره کولے شئ ـ

شــــرنګ د بنګـــــړو او غېـــــږ د جانـــــان
څـــــواني روانـــــه ده وخـــــت د ے روان
راځـــه چـــې اوکـــړو مُـــلا دوه ګوتـــه
بيـــا بـــه قيصـــې کـــړو د ســـود او زيـــان

دا سې لکه څنګ چې غني خان په مرغو يا ځناورو
وغېره نظمونه ليکلي دي ـ ناصر صېبً هـم ,, غـانکۍ او
لولکۍ ،، او ,,کارغۀ ،، باندې نظمونه ليکلي دي ـ چې دغه
اثر پرې دلته هم جوت ليد ے شي ـ



www.pukhto.net

ګران ناصر ددې فلسفې نه خبر دے چې انسان په لټون کښې دے . د کائناتو په لړ کښې چې دا څومره رازونه وسپړدے شو . دا د لټون نتيجه ده خو دا د ماديت سره تعلق لري . چې انسان د سائنس په بنياد تر سپوږمۍ ورسېدو . د زمکې په مخ ئې ډېر مزلونه سر کړل ولې د خالق کائنات لټون هم د ازل نه د انسان سره ملګرے دے چې د روحانيت سره تعلق ساتي . ددغه رازونو دپاره هم ډېرې هستۍ تېرې شوې دي او په هره زمانه کښې داسې سپېڅلي خلق موجود وي چې د خالق کائنات په لټون وي . دغه لټون د ځان نه شروع کېږي او په ځان ختمېږي . د ځان پېژندل د خپل رب پېژندل وي او بيا په ويړ کائنات کښې د جمال د مظهرونو نه د رب کائنات ننداري خپله يو روحاني او قلبي کېفيت وي او هم دغه کېفيت کله انسان په خپل ځان کښې ډوب کړي چې لکه د منصور د ,,انا الحق ،، په چغه وهلو مجبور شي . ناصر صېب وائي :-

جانان جانان به مې کول د څۀ خبر نۀ وومه
وختونه داسې تېرېدل د څۀ خبر نۀ وومه
ما به وې څۀ خو يو ښائسته شاني انسان وي جانان
هر ښکلي مخ ته مې کتل د څۀ خبر نۀ وومه

يا داسې :-



www.pukhto.net

د ژوندون په دشته کښې روان يمه څۀ ډېر يوازې
شګې شمېرم څۀ لپونے يم د جانان په لټون

د لټون دا هڅې د ښاغلي شاعر د مستقبل لارې مونږ ته ښائي که دا لار ئې پرې نښوده يا ترې د خپلو مصروفياتو له وجې پاتې نۀ شوه نو يقين لرم چې د لټون دغه نتيجې به ئې د پښتو شعر دپاره نور نوي نوي رنګونه وسپړي.

خبر نۀ يم چې ناصر صېب د روحانيت سره څومره تړون لري ولې په دې پوهېږم چې هر انسان په تنهايۍ کښې د خپل روح دننداري هڅې کوي. ديو لټون او شواخون سره مخ کېږي. په هرطور د دوئي د شعر نه داسې انعکاس په نظر راځي.

د دوئي شاعري د انساني معاشرې په چاپېرچل کښې رازېږېږي ،تخليق کېږي او وده کوي د ادبياتو مطالعه لري او مطالعه کوي ، په نړيوال حالاتو نظر ساتي او نړيوال ادبيات ګوري. د نړۍ موجوده صورتحال چې بارودي فضا را الوتې ده زور ازمائي روانه ده .ښاغلے دې حالاتو ته غمژن دے او د خپل کېفيت داسې اظهار کوي.

زما خو زړۀ ډوب شي چې مړ شي کچ بچے د مرغۍ
انسان خو بيا وي غټ انسان ، انسان به څنګ هېروؤم

په دې وينې وينې حالاتو کښې د خپل وطن تصويرونه هم ګوري چې په کومو دوړو او لوګو کښې پټ دي وائي چې :-



www.pukhto.net

پښتانه د پر نفاقونو زورولي
اتفاق زمونږ تر مينځه راپيدا کړه
دا غريبه پښتونخوا ډېره بې امنه
پښتونخوا راته د امن پښتونخوا کړه

يا دا چې :-

پښتون به مرم پښتون ژوند ے په پښتونخوا اباد يم
پښتونه ستا په قام نسب چې يم په تا اباد يم
د کوم ظالم په ناکړدو ډوب په تيرو کښې شولې
يه پښوره زۀ خو تل ستا په رڼا اباد يم

ښاغلے د اعلیٰ انساني فکر خاوند دے .په مجموعي توګه د انسانيت د اعلیٰ مقام په تکل دے .د ټول انسانيت د خدمت جذبه په زړۀ کښې لري غواړي چې ټول انسانان د يو بل په کار راشي .زمونږ دين او پښتو دواړه ددې عمل ښکاره دليلونه دي او چې يو مسلمان او پښتون ددې جذبې نه عاري شو ددې دائرې نه اوځي .زمونږ پيغمبر بلا تفريق د هر چا خدمت کړے دے .بايد چې مونږ هم د خدمت په دغه جذبه د هر څۀ نه بالاتر د خدائے د رضا دپاره د خدائے د مخلوق خدمت په نظر کښې وساتو.

کوم سړي چې د خدمت لاره کړه خپله
بس هم دغه يو سړے دے چې د کار دے


www.pukhto.net

د ناصر صيب په دې مجموعه کښې ښۀ ښۀ موضوعات شته دے .تاسو ئې د لوستو په وخت د نظره تېرولے شئ .په فني توګه د دوئي سفر لاړ ډېر هم نۀ دے او د ادبي ماحول نه په ډېره پاتې دے .خو تشبيهات او استعارې کنايې ئې ډېرې ښائسته او نوې راوړې دي .,, خوب که په وينبه، ، نظم ئې په دې لړ کښې د لوستو دے.

ښاغلي ناصر صيب د غني خان د شاعرۍ تجزيه هم د خپل فهم مطابق کړې ده او د خپل وخت د ځنو دانشورانو ، مفکرانو او فلسفيانو سره ئې غني خان په مختلفو حوالو سم کړے دے.

ځوک دهري به ورته وائي ، ځوک به وائي مسلمان دے
کۀ ځوک هر څۀ هر څۀ وائي، غني خان خو غني خان دے
لېونے کۀ فلسفي دے ، کۀ شاعر دے که فنکار دے
د عاشق د زړۀ اواز دے د خوږمن زړګي درمان دے
خوږ په ليک لکه حمزه دے د خوشحال غوندې سپين ګويه
د خاطر په شان رنګين دے په ګفتار لکه رحمان دے
د جان کيټس په شان حساسه، سنجيده لکه ملټن وو
فلسفه کښې د شيکسپئير نه ئې ګټلے انګلستان دے

هر کله چې د دوئي شاعري ډېره ښۀ ده مونږ ورسره هيلې او امېدونه تړلے شو .دوئي د انګرېزي ادب مطالعه کړې



www.pukhto.net

ده ـ شاید په دې وجه نظم پله زیات متوجه ښکاري او ربښتیا خبره ده چې نظم ئې ډېر خوندور دے که لږ پام ورته وکړي نو ښۀ نظم تخلق کولے شي او داسې ئې غزل هم د جدت رنګونه رابرڅېره کولے شي ـ د ژبې سره به هم خواري کول غواړي چې سوچه ادبي پېرایه خپله کړي ادبي او سوچه ساهو لفظونه به د دوئي شاعرۍ ته نوره هم ښکلا او ځلا وبخښي ـ دې کښې شک نشته چې د ناصر صېب خیالات ډېر اعلیٰ دي ـ ولې د ادبي محفلونو نه په ښنګ پاتې کېدل ئې په کلام کښې یوه تنده محسوسوي ـ

خدائے دې د دوئي دا جذبه داسې تانده لري چې د خپلې ژبې ادب او قام خدمت ته چمتو وي ـ

په ډېر درناوي

ډاکټر شېرزمان سیماب
پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي
۲۵ نومبر ۲۰۱۴ء



www.pukhto.net

# خپلې خبرې

زما به څۀ وائې خو بس ځوک راته څۀ وائي او ځوک څۀ. ځوک وائي چې د لړم په شان غصه ناک ئې او ځوک وائي چې د ګډې په شان معصوم او خاموش ئې. ځوک وائي چې د مار هسې زهريله ئې او ځوک وائي چې ډېر بې ضرره او خوږ انسان ئې. زۀ رښتيا وايم چې زۀ په ځان پوهه نۀ يم چې زۀ څۀ يم. ښۀ يم کۀ بد. خو بس انسان يم او په انسانانو کښې اوسېږم ځکه چې انسانان مې ډېر خوښ دي او ټول عمر به دا کوشش کوم چې د انسان خدمت او کړے شم.

امجد ناصر



www.pukhto.net

***

کـــۀ جبـــار دے کـــۀ غفـــار دے زمـــا رب
د جهـــــان پروردګـــــار دے زمـــــا رب

چې رحيم دے په صفت کښې هم رحمان
د کفـــارو هـــم غمخـــوار دے زمـــا رب



www.pukhto.net

# دعا

لویــه خدایــه علــم راکــړه پوهــه راکــړه
مــونږ د علــم پــه مېـدان کښـې سـربالاکـړه
امتیــــان ســــتا د نبــــي اخــــر زمــــان یُــــو
د نبــي پــه وصــیله مــو ژونــد رڼــا کــړه
پــه ســجده پراتــهٔ یُــو طمــع د رحمــت کــړو
د تقــــوىٰ وس رالــــــه را د دعـــــا راکــــړه
زمــــونږ زړونــــه ککــــړ شــــوي پــــه ګنــــاه ي
زنــګ آلــود زړونــه مــو پــاک او بــې ریــا کــړه
پښــــــــتانهٔ ډېـــــــر نفـــــــاقونو زورولــــــــي
اتفــــاق زمــــونږ تــــر مینځــــه راپېــــدا کــــړه
دا غریبــــه پښـــتونخوا ډېـــره بـــې امنـــه
پښــتونخوا راتــه د امــن پښــتونخوا کــړه
نــهٔ پــوهېږو چــې څــهٔ ، څــهٔ بــه درنــه غــواړو
څــهٔ چــې ښــهٔ وي هغــه راکــړه هغــه راکــړه

۲۰۱۴ء/ ۴ / ۲



www.pukhto.net

***

مـونځ ګـذار بـه شي ستومانه په مونځونـو
ذاکــرين بـــه هــم قـــلار شـــي د ذکرونـــو

فرشـــتې بـــه انکـــاري شـــي د ســـجدو نـــه
مُلايـــــان بـــــه منـــــدې وئ د محرابونـــــو

تبليغيـــان بـــه تـــول قـــلار شـــي لـــه تبليغـــه
بريليـــــان بـــــه توبـــــه کـــــئ د آذانونـــــو

نمـــر ســـپوږمۍ بـــه خپلـــه لاره کـــړي بدلـــه
تـــول کبـــان بـــه رابهـــر شـــي د ســـيندونو

د طوفـــان ګېـــره کشـــتۍ بـــه پـــه ارام شـــي
رابهـــر بـــه شـــي د تـــورو شـــنو ولونـــو

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

الاماشــاء الله لفــظ چــې راځرګنــد شــو
هــر انســان شــولو بنــدي پــه قســمتونو

خېـر او شـر د پـاک الله پـه لـوئې قـدرت شـي
لوبــه اووتــه زمــا او ســتا د فکرونــو

ناصــر وائــي لــوئې الله طــرف تــه مــخ کــړه
چــې ازاد شــې د دنيــا د عــذابونو

۲۸ / ۷ / ۲۰۱۴ء



www.pukhto.net

***

چې په ځان ئې برے اومونډ بریالے دے
هر چې کار کړي د ځوانانو آزلمے دے

د پیرۍ توبه خو کوږ هسې وباسي
چې توبه په ځوانۍ اوکړي ازمرے دے

نصیحت رحمانه کله ورته مهٔ کړه
شوک چې کار اخلي د عقل نهٔ سړے دے

زړهٔ چې غوڅ کړي په خنجر د ظالم عشق
جوړ به نهٔ شي کهٔ انسان دے که پیرے دے

یار په سترګو کښې چې پټ کله ښکاره کړم
خلق وائي دا سړے خو پیریانے دے

ډیر په چل ول ئې راویستمه د کلي
رقیبان وائي ناصر خو پېښورے دے

۲۰۱۴ء/ ۲ / ۷



www.pukhto.net

***

فکـر مـې خيـال کښـې ول پـه ول ونخلـي
لکـه چـې اوښ پـه چيـت دُرشـل ونخلـي

زمـا زړګـے او سـتا ببـرې سـترګې
لکـه زمـرے چـې پـه ځنګـل ونخلـي

زړۀ سـتا لـه مينـې مـې تـاوېږي داسـې
خـس چـې د ډوب ځګـې پـه ول ونخلـي

هـيڅ اسـره نـۀ لـري د خـدائے نـه بغېـر
ځنګلـي غـوا چـې پـه دلـدل ونخلـي

تـۀ چـې راګـورې زۀ لـيکم پـه مينـه
چـې سـترګې پټـې کـړې غـزل ونخلـي

ناصـر بـه کـوم کـوم دام د مينـې شـلوي
د يـو نـه وځـي نـو پـه بـل ونخلـي
۲۴ / ۱ / ۲۰۱۴ء

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

***

مــخ ئــې پــټ وو پــه لېمــو کښــې مســېدله
خوالـــه نـــۀ راتلـــه لـــه ورایـــه رېږدلـــه

کلـــه اخـــوا کلـــه دېخـــوا بـــه کتـــل ئـــې
ښـــۀ ئـــې زړۀ وو خـــو بـــې حـــده شـــرمېدله

مـــا منګـــي تـــه ئـــې کتـــل تینـــدک مـــې اُوواؤ
دا ولاړه پـــــــه ګـــــــودر وه خندېدلـــــــه

مـــا وې زۀ بـــه ئـــې ورســـره تـــر کـــوره یوســـم
نـــرۍ مـــلا پـــه درون منګـــي ئـــې ماتېدلـــه

ناصـــر خـــومره مـــوده پـــس کلـــي تـــه راغـــې
پېغلـــه هغســـې پـــه ګـــودر کښـــې هښېدلـــه

۱۴ / ۷ / ۲۰۱۴ء



www.pukhto.net

## دنیا څهٔ ده

چا ته رڼ د سبا خوب
چا ته سخا زړه ځپلی
چا ته سخا سیکه د زیړو
یا د سرو زرو اګی
چا ته کاڼي چا ته شګه
چا ته لال ګوهر سیپی
چا ته مور هسې خوږه وي
څوک ئې ګڼي بده سپی
چا په سر لکه راخستې
د خراشنو ډکه ټوکری
چا ته زهر وي ګنډیر وي
چا ته کُچ ماستهٔ او پی
چا ته پروت په سر خدمت وي
د بوډا پلار او ابی



www.pukhto.net

چــــا لــــــه ښـــــځه وي پـــــودړه
چــــا لــــــه ښـــــکلې ښــــا پيرۍ
چــــا لــــه ځــــوان زلمــــي خيالونــــه
چالـــــــه زوړ کـــــــټ د پيــــــرۍ
د چــــا ګُــــور او تــــور ويښــــتهٔ وي
د چــــــا ځـــــــټ وي ګنـــــــډ يرۍ
د چـــــا شـــــکل خـــــوار و زار وي
ســـــاګ تـــــرې وړے وي ســـــيلۍ
څـــوک پېـــدل پـــه ســـفر ســـترې
خپــــــې تښـــــاکې وي پــــــولۍ
څـــوک پـــه مســـتو اوبـــو مســـت وي
د چـــــــا اوچــــــــه وي مـــــــرۍ
څـــوک بـــه خـــوښ وي پـــه ربـــاب
شـــپونکے خـــوښ وي پـــه شـــپېلۍ
څـــوک پـــه چـــرګ چرګـــوړي پـــائي
څـــــوک عــــــادت وي د پيتــــــۍ
څـــوک مغـــروره پـــه صـــحت وي
څـــوک مجبـــور پـــه بيمــــارۍ
هېڅــــوک نـــهٔ شـــي پرېکـــولے
د مرګـــــــي مــــــــرۍ نـــــــرۍ


www.pukhto.net

ربـــه څـــۀ قيصـــه ده جـــوړه
بـــې وريځـــو ئـــې غـــړى
ستـــا د زور او جبـــر نـــۀ يُـــو
هســـې څـــۀ لـــه مـــو يـــرى

۲۵ / ۷ / ۲۰۱۴ء

## قطعه

قسـم مـې سـتا د سـر ګټلـو کـړے
سر بـه اوس ځـان لـه پـه رښـتيا مـاتوم
سـتا د ديـدن چـې مـې روژه نيولـه
اوس به په شونډو ئـې هـم ستا مـاتووم


www.pukhto.net

***

جانان جانان به مې كول د څۀ خبر نۀ وومه
وختونه داسې تيربدل د څۀ خبر نۀ وومه

ما به وې څۀ خو يو ښائسته شانې انسان وې جانان
هر ښكلې مخ ته مې كتل د څۀ خبر نۀ وومه

څواني وه داسې په مستۍ به گرځېدم بې غمه
په پړقا پړق به مې خندل د څۀ خبر نۀ وومه

زۀ يم بدرنگ جانان ښائسته دے دا به سوچ وو زما
رنگين ليكو به مې غزل د څۀ خبر نۀ وومه

تلاش د يار كښې خلق كوم كوم ځائے ته ورسېږي
څوک په صحرا څوک په ځنگل د څۀ خبر نۀ وومه

امجد حسين ناصر

www.pukhto.net

زۀ ورنـــزدې ووم او جانـــان بـــه لـــرې لـــرې وتـــو
کلونـــه داســـې تیرېـــدل د ښـــۀ خبـــر نـــۀ وومـــه

مـا خـو وئیـل ډېـر پـه اسـانه بـه ئـې خپـل کـړم اخـر
خلـــق پـــه دار پســـې ختـــل د ښـــۀ خبـــر نـــۀ وومـــه

خوب کښې مې چغې کړې چې خلقه جانان خپل کړمه نن
رابانـــدې کـــانړي ورېـــدل د ښـــۀ خبـــر نـــۀ وومـــه

ناصـر چـې کلکـه غـاړه ورکـړه د مرګـي پـه وخـت کښـې
جانـــان پـــه چپـــه خلـــۀ ژړل د ښـــۀ خبـــر نـــۀ وومـــه

۲۳/۷/۲۰۱۴ء



www.pukhto.net

## خوب کۀ په ویښه ؟

ګل بدنه وه د ګل هسې نازکه
ما چې غېږ کښې رانیولې وه ښۀ کلکه
ملا نرۍ لکه ویښتۀ ئې راته یاد ده
په سینه کښې داسې وه لکه نینزکه
شل رنګونه ئې د سترګو بدلیدل به
په خندا شوخۍ کښې وه لکه لولکه
غاړه سره لکه مرۍ وه د بلبلې
اندامونه ئې وو چُست لکه سرخکه
په نیولو کښې پسته لکه د سوئې
ګرځېدو کښې لکه مسته خارونکه
دې ویل تۀ راګوره زۀ درته خندېږم
ما ویل ما دې په څنګل باندې اودۀ کړه
دې ویل غم درسره ډېر دے فکر مند ئې
ما ویل څوک راباندې رانۀ شي د ټکه



www.pukhto.net

بیا ئې لاس رانه چاپېر کړل څهٔ په مینه
ما ویل شونډې خو مې پرېږده خدائے دې مړه که
دې ویل خُله دې په زخمونو باندې ږدمه
ما ویل زړهٔ مې د بر په مینه دلاسه که
دا انسانه وه کهٔ حُوره وه ناصره
چې اوچته دې په لاسو کښې کړه سپکه

قطعه

زهٔ خو پاګل یم لېونے او سپېلنے یاد یم
جانانه تاته پس د مرګه به په دې یاد یم
منم چې تاله خدائے غرور، ښائست ځواني درکړې
خو زهٔ د خپل کلي بې باکه یو زلمے یاد یم

۱۵/۵/۲۰۱۳ء

امجد حسین ناصر

www.pukhto.net

## هلته کښې

دلته يوه هم نشته او هلته کښې اويا به وي
يو تهٔ چې مخ کومه باقي ټولو ته مې شا به وي
څنګه به دستور وي هلته څنګ به ښکلوؤ جانان
څنګه به مستي کوؤ څنګ د شوق انتها به وي
څو ورځې خلوت کښې او څو ورځې به جلوت کښې يُو
ورځ او شپه به وي او کهٔ نه تشه مشغولا به وي
دوه خوارهٔ ياران او يو جانان او يو به زهٔ يمه
پورې غاړه اور کښې پروت ئې ښځه او مُلا به وي
ډېر به ماشومان وي خو يتيم يسير به نهٔ وي څوک
نهٔ په چا دانې نهٔ ننکې نهٔ مليريا به وي
نهٔ به لوږه تنده نهٔ نيستي نهٔ به نهر وي څوک
نهٔ به څوک څهٔ غواړي چا نه هر انسان پورا به وي
نهٔ به کونډې رنډې نهٔ شليان ګوډيان به وينې څوک
نهٔ به څوک ګنجي وي نهٔ پمن هر څوک بينا به وي
نهٔ به سحر کېږي چې څوک اوځي مزدورۍ پسې
نهٔ به يو ماښام وي چې څوک بې زارو دعا به وي



www.pukhto.net

نـۀ بـه ښـوک دهوکـه کـړي نـۀ لالـچ بـه د پیسـو کـوي
هلتــه کــۀ مُــلا وي هــم نــو ډېــر ښــۀ بــې ریــا بــه وي
نۀ په چا احسـان بـه وي نۀ مخ مـروت بـه ګـوري ښوک
هـر کـلام چـې اوري د هـر چـا خـولې رښـتیا بـه وي
نـۀ بـه وي ښـیرې نـۀ بـه دعـا تـه وي حاجـت د چـا
هــر طــرف تــه الســلام علــیکم او خنــدا بــه وي
یــو تــولګې پښــتون بــه وي د لــرې نــه ځلېــږي بــه
نیســي بــه غورېونــه پــه کنځلــو دا ســزا بــه وي
چــا کــۀ بــې پښــتو خبــره اوکــړه نــو زغلــوؤ بــه ئــې
هلتــه پــه پښــتو ویلــو زمــونږ غتــه کنــزا بــه وي
یو ځائے به مجلس جوړ وي مستي ګډا کوي به ښوک
لـږ چـې ورنـزدې شـې نـو غنـي خوشـحال حمـزا بـه وي
بــل ځــائے بــه ربــاب وي او نغمــه بــه الاالله وهــي
خلــق بــه راتــول وي ورتــه دا رحمــان بابــا بــه وي
نـۀ بـه وخـت راځـي او نـۀ بـه ځـي هسـې پـه دا شـتاب
نـۀ بـه وي مـرګـې خـو نـۀ ژونـدون ددې دنیـا بـه وي
ناست به ناصر جان وي نۀ ښوک خوا کښې ورسره به وي
دلتــه هــم یــوازې هلتــه هــم ناســت بــې اشــنا بــه وي



www.pukhto.net

## زۀ څوک یادؤم څه ؟

یا خو به ښائسته وي او یا ډېره به ښائسته وي بس
ما چرته په دوئي کښې خو بدرنګه سهي نۀ کړله
سمه به لولکه وي خو بیا هم قرمیځنه وي
یا به توره چخه وي خو زړۀ نه به مې سمه وي
یا به لکه اسپه په مکیز به تلۀ کوي
یا به غټه مېښه چې پینځه درې شودۀ کوي
زړۀ به پرې مور نۀ شي کۀ بوجۍ غټه د ګورې وي
اوږے به ترې پاتې شي چې لور څوک د ککړې وي
ځنې به دې تږے له سیند غاړې واپس راولي
ځنې به دې سپې له ښۀ غوښې ورکړي پخپل سیند کښې
څوک به ځاندې سور لکه د حورې د جنت کوي
شکل که ئې ګورې چوارۍ میتره هم ترئ
یو لکه وارژنه بیزه کوکې درپسې وهي
بله به دې هسې خواؤ شا لکه د چرګې وي
کله به دا ورېې مګې پوزه هر پلؤ وهي
کله د پیشو په شان پسته پسته به دؤ وهي


www.pukhto.net

یا لکه خارو په مستۍ کله په ټوپونو وي
یا لکه د کور د پیشکۍ ټوله ولونه ولونه وي
څۀ په مینه خلاصې وي او څۀ د مینې خلاصې وي
څوک د حسن ډکې وي او څوک پکښې هم داسې وي
ښۀ لوړه چوکه وي ښۀ نازکه ګل اندامه وي
خوئي ته چې ئې ګورې د بدرنګو به امامه وي
ښۀ به چیته پیته نۀ ئې بوټي نۀ څۀ رنګ به وي
خوئي لکه رباب کوي هر وخت په سر او شرنګ به وي
یه ناصره زړۀ به دې ټول عمر نا قلاره وي
څوک چې زړۀ ژوندے وي ستا او ښځې بې قناته وي

۱۱ / ۲ / ۲۰۱۴ء

**قطعه**

کۀ جبار دے کۀ غفار دے زما رب
د جهان پروردګار دے زما رب
چې رحیم دے په صفت کښې هم رحمان
د کفارو هم غمخوار دے زما رب
۱۱ / ۳ / ۲۰۱۳ء



www.pukhto.net

***

ستا سوچونه ، ستا فکرونه
زړۀ زما وي ستا يادونه

ستا شوخي وي ستا ادا وي
زما خيال وي ستا تالونه

ستا نظر وي او ستا سترګې
زما سترګې ستا نظرونه

ستا کاتۀ وي ستا بانۀ وي
په سينه مې تندرونه

سپين بدن دې شُغله سپينه
سپينې سترګې سيلابونه



www.pukhto.net

ستا په سوچ کښې ستا په خيال کښې
جوړ ؤمــــــــــه محلونــــــــــه

زمــا ســوچ هــر وخــت خمــار وي
ســــــتا خبـــــــرې شـــــــرابونه

تـــــوره شـــــپه وي زۀ يــــــوازې
بـــس يـــو تـــۀ ئـــې يـــو دې يادونـــه

د ناصـــر کـــار بـــه بـــل ځـــۀ وي
جـــــوړول ســـــتا تصـــــويرونه



www.pukhto.net

***

کله چې راګورې زړهٔ مې ستا سترګې ببرې ورې
روح مې سم د تن نه دا ستا سرې شونډې شکرې ورې

ډېرې غصې اوکړه ښهٔ دې زړهٔ راباندې سپک کړه بیا
ما نه بغېر څوک جانانه ستا دومره خبرې ورې

مړ دې کړمه بیا دې د کوتې په ګټ کښې ښخ کړمه
یه جانانه خلق مقبرې ته مړے لرې ورې

ټولې فیصلې خو په قسمت په دې دنیا کښې دي
څوک د سیند نه شګې ورې او څوک ترې ملغلرې ورې

داؤ د محبت چې کله هم په زړونو اولګي
هر څومره چې غټ زړهٔ وي هغه سترګې کافرې ورې

تهٔ مینه کوه ناصره غم د اظهار مهٔ کوه
مینه کښې چې صدق وي پېغام ورله کوترې ورې
۲۰۱۴ء / ۵ / ۵

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

***

په پښتو کښې يو متل ډېر مشهور دے
چرته ښځه او پيسه هلته فتور دے

دکاکا د بې خوندۍ به څۀ ګيلې کړم
هغه اوختو تپوس ما ويل باتور دے

بخته ستا مينه مې بالکل پکار نۀ ده
پښتانۀ متل کوي چې ترۀ تربور دے

نۀ په ځان نۀ په جهان نۀ په عزت وي
کوم سړے چې د حالاتو نه مجبور دے

انتها ئې د قدرت نۀ شي کېدلے
چې خدائے څومره دے قهار هومره غفور دے

هېڅوک مۀ چيړه ناصره په دنيا کښې
دلته هر سړے په مينه کښې رنځور دے
۱۱/۴/۲۰۱۴ء



www.pukhto.net

***

ناصحه چل راته راښایه ځان به خنک ھېرؤم
مرګې به خنګه ھېرؤم جانان به څنګ ھېرؤم

یوه یوه لحظه د ژوند چې په وصال تېره ده
جانان خو ډېر دے راته ګران نو ګران به څنګ ھېرؤم

ماته مُلا قيصې د حُورو او جنت تېروي
شیرین جانان د خوږ زړګي درمان به څنګ ھېرؤم

قاضي جانان دې په یوه خندا بري کړو رانه
ددې ټوټې ټوټې زړګي تاوان به څنګ ھېرؤم

زما خو زړۀ ډوب شي چې مړ شي کچ بچے د مرغۍ
انسان خو بیا وي غټ انسان، انسان به څنګ ھېرؤم

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

چې پکښې ما او جانان دواړو ماشومتوب تېر کړے
ملاکنډ خنګ به هېرؤم مردان به څنګ هېرؤم

زۀ ناصر جان پاګل سهي خو بې وفا نۀ يمه
زۀ د ماشوم زړګي زلمے ارمان به څنګ هېرؤم

۱۱/۴/۲۰۱۴ء


www.pukhto.net

## د مشال صیب په نوم دا غزل ډالۍ کوم

ستا او زما ، زما او ستا به څهٔ وي
دنیا فاني ، فاني دنیا به څهٔ وي

مینه د ژوند او ژوند د مرګ سره
انتها مرګ ، مرګ انتها به څهٔ وي

بس عاقبت په لار د مرګ ورتلهٔ دي
رښتیا دروغ ، دروغ رښتیا به څهٔ وي

چې پیغمبر له عزرائیل راغلے
بادشاه غریب ، غریب بادشاه به څهٔ وي

چرته قیصه واوره زما او د یار
لیلیٰ مجنون ، مجنون لیلیٰ به څهٔ وي

پرواه د ځان نهٔ کړي ناصر مینه کښې
لالا کاکا ، کاکا لالا به څهٔ وي

۲۰۱۴ء/ ۳ / ۱۷

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

# د غني خان بابا
## په سل کلیزه امجد ناصر وائي

ځوک دهري به ورته وائي ، ځوک به وائي مسلمان دے
کۀ ځوک هر څۀ هر څۀ وائي، غني خان خو غني خان دے

لېونے کۀ فلسفي دے ، کۀ شاعر دے کۀ فنکار دے
د عاشق د زړۀ اواز دے د خوږمن زړګي درمان دے

خوږ په لیک لکه حمزه دے د خوشحال غوندې سپین ګویه
د خاطر په شان رنګین دے په ګفتار لکه رحمان دے

کله ځان ته په غصه وي کله خدائے سره په جنګ وي
بس خو څۀ به ورته وایو چې بچے د باچا خان دے



www.pukhto.net

په کردار او خوئي ئې ګوره ، د پښتو خاورې ځان ته وائي
اصل نسل کۀ ئې ګورې، نو د تول هشتنغر خان دے

ګډې وډې ورته وائي ، خو ليکي د زړۀ خبرې
کۀ ئې سوچ په غزل اوکړې نو پوره په هر زبان دے

د جان کيټس په شان حساسه، سنجيده لکه ملټن وو
فلسفه کښې د شيکسپئير نه ئې ګټلے انګلستان دے

زۀ ناصر چې پوئې په شعر شوم دا کمال خو د بابا وو
د بابا خيال او لفظونو ، خو ډک کړے مې ديوان دے

**قطعه**

ګرانه ګرانه غني خانه ، تۀ خو لاړې د جهانه
مونږ دې پرېښودو يواځې ، ډېر جوړ تنګ وې د مُلانه
اوس ژوندون تۀ د مزو کړې، هر ماښام په سېل روان ئې
هسې دلته په ګيلو وې ، د رحمان رحيم مولانه



www.pukhto.net

***

کۀ ټول عمر مسافر يم
کۀ د کوره هم بهر يم

کۀ ايرې خاورې په سر يم
کۀ لګيا په څۀ هُنر يم

کۀ بادشاه يم کۀ نوکر يم
کۀ په سمه کۀ په غر يم

کۀ لاهو په سمندر يم
کۀ ورک شوے په سفر يم

صحابي کۀ پيغمبر يم
کۀ د اصل نه منکر يم



www.pukhto.net

کــــهٔ پېـــــرے یـــــم کــــهٔ بشــــــر یــــم
پــــه هــــر حـــال کښـــې ســـتا پــــه ســـر یـــم

ســــتا پــــه ســــترګو کښــــې نظـــــر یــــم
کــــهٔ دشـــــمن کـــــهٔ دې دلبــــــر یــــم

ســــتا لــــه روحــــه پېـــــدا شــــوے
مســـــلمان یــــم کــــهٔ کـــافر یـــم

ســـتا پـــه ســـاه کښـــې چـــې ســـاه اخلـــم
خـــو بـــس ســـتا د زړګـــي ســـر یـــم

کـــهٔ بېـــل واخلـــم او تـــا پرېـــږدم
د خنزیــــــره هــــــم بـــــدتر یـــــم

لویــــه خدایــــه معـــــافي راکــــړې
پېغمبـــــر نــــهٔ یــــم ناصـــــر یـــــم

۱۷/۸/۲۰۱۳ء



www.pukhto.net

# د یو پښتون مزدور قیصه

سحر د کوره راوتو بچے ئې ښکل کړو په مخ
ویلي بچیه تاله څهٔ راؤړم د ښاره وایه
زوئے ئې وئیل د حسن ګل ماما بچے پېژنې؟
هغه له پلار پرون ټوپک او تماچه راؤړې
بابا ټوپک راله راواخله چې راځې کلي ته
دهٔ یو څل بیا په تندي ښکل کړو ویل ئې ښه بچیه
سبق له ځه استاذ جي بیا پرون ګیله کوله
د کوره اووت د غمونو اندېښنو ښادر کښې
چې خدایه بیا به نن په لاس مزدوري راشي کهٔ نه
دغه فکرونو کښې د ښار په ورشو ننوتو
یو ټهیکدار ولید آواز ئې ورله ورکړو فلانې
دهٔ ډېر په طمع امیدونو ورته ووې جي صېب
ویل ئې یو کورکښې بنیادونه کنستل دي کارکوې او کهٔ نه؟
دے ورته وائي نائکه حساب دې فتهانه که څټل؟

امجد حسین ناصر

www.pukhto.net

ځائے ته ئې سوچ نۀ کړو چې غر به وي که سمه به وي
خو بس تپوس ئې د پيسو تري نه اول اوکړلو
نائک ورته وائي بس پينځه سوه دې ورځ شوله نو
سړے په مخه شو د نائک سره روان شو کار له
روژه په خلۀ ئې تر ماښامه مزدوري اوکړله
پيسې ئې واخستې په جېب کښې ئې منډلې داسې
لکه چې ډېر عمر ئې جېب ددې ارمان کړے وو
يوه ګېنټه وه په اذان د ماښامې کښې پاتې
دے په بازار راغے وریاد فرمائشونه شو ټول
د زوئے ټوپک خو ئې په دوه سوه روپۍ واخستو
پاتې شوې درې سوه روپۍ او ښۀ بې شمېره سودا
د پېشمني دپاره پۍ ماستۀ ئې هم واخستل
اوس ئې په جېب کښې شولې پاتې يو او نيم سل روپۍ
چنه او توري چائې ئې هم ورته مېرمن ياد کړي
ويل ئې که پاتې شوې نو ماله به اچار راواخلې
لږ ټماټر او بياز به هم درسره راوړې ګرانه
دے چې ګاډۍ ته د سبزۍ شو ورنزدې نو درز شو
دوړې لوګي په هر طرف ښکاري او شور جوړ شو
چا ظالمانو په بازار کښې دهماکه اوکړله
مزدور په زمکه پروت په لاس کښې ئې پيسې نيولې



www.pukhto.net

د زوئے ټوپک ئې په سینه پورې نیولے وو جوخت
خدائے خبر څنګه عزرائیل ترې ساه راویستې وه لا
سترګې غاښونه ئې د وینو نه وو ډک ملګرو
خاورو کښې مخ ئې وو الوتے خر پر
ځپلے شلېدلې ئې په غاړه کښې نختلې وه یو
نیم وجود پروت وو نیم هوا کښې الوتلے ئې وو
خلقو اوچت کړو نۀ وو کټ نۀ وو څادر د حیا
نۀ ئې په جېب کښې وه څۀ نخښه نښانه چې څوک دے
په ادیره د مسافرو ئې ور وسپارلو
دغه ژوندون دغه قیصه وه د پښتون ملګرو
ماشوم ناصر پاتې شو داسې د ټوپک په ارمان
کۀ غټ شو وابه خلي ټوپک بدل د پلار به واخلي
او یا به دغسې بې نومه بې نشانه مړ شي
لکه چې څنګ ئې شو بابا مړ په غُربت او نیستۍ

۲۰۱۳ء/ ۸/ ۲


www.pukhto.net

***

دا زۀ انسان يم کۀ حېوان يم په ځان پوېه نۀ شوم
چې فرشته يم کۀ انسان يم په ځان پوېه نۀ شوم

کله مندر کله په لار کښې جوماتونه وينم
د ژوند په کومه لار روان يم په ځان پوېه نۀ شوم

بوتې مې سوزي روح کوي مې د آسمان مزلې
چې په مکان کۀ لامکان يم په ځان پوېه نۀ شوم

بس خو د هر چا نه ځارېږم د جانان په مينه
نۀ ئې په ګټه نۀ تاوان يم په ځان پوېه نۀ شوم

ما د جانان وصال ته وسپارله ټوله دنيا
په خپله وصل کۀ هجران يم په ځان پوېه نۀ شوم

امجد حسين ناصر

www.pukhto.net

ما چې د ټول عمر وفا کښې ځان ګاڼه کړو يار ته
زۀ خو د څو ورځو مهمان يم په ځان پويه نۀ شوم

کله ګيلې کوؤم د ځان نه کله خدائے نه ګيلې
يم ناصر کۀ غني خان يم په ځان پويه نۀ شوم

۲۱/۷/۲۰۱۴ء



www.pukhto.net

***

صبح و شام وي کاروبار ددې دنیا
سترې نۀ شم په ګفتار ددې دنیا

ښۀ خبر یم چې ختمېږي په تیرو به
خو روان یمه په لار ددې دنیا

عاقبت به درومې غلې قبرستان ته
ورک شه زوګ ، شور و شاتار ددې دنیا

نۀ شل کېږي کۀ هزار خوني کړې ورانې
بس که نور شه په قلار ددې دنیا

چې لړې لړې ئې هم د زهرو نه کم نۀ دي
عادت مۀ شه په بسیار ددې دنیا

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

کامیابي او کامراني خو د عقبا ده
ورک شه غرۀ افتخار ددې دنیا

چې ئې سر ټیټ وي قیامت کښې پاک الله ته
څه که وي سپه سالار ددې دنیا

هیڅ هُنر به ئې پکار نهٔ شي په برزخ کښې
بد عمل کهٔ وي فنکار ددې دنیا

ما ناصر ته کهٔ دې ټوله راپه سر کړه
مورې به نهٔ شم په انبار ددې دنیا

۲۰۱۳ء/ ۲/ ۲۳


www.pukhto.net

# کارغۀ ته

ډېر بد رنګ ئې يار ته په بلې راکره مۀ کښېنه
تاته خو ښۀ پته ده چې تور شے مې ډېر بدي شي
يو دې دا مېنځوکه د سرو نۀ ده بل سترګې دي
وازې وازې کېږي تۀ به وائې څۀ دې ورک شوي دي
مور مې درته وائي کارغۀ د ښو زيرے راوړے دے
زۀ ويمه بې بې دا خو سپېرۀ دے د غُل خور بچے
اخوا دېخوا ګورې لکه غل د شپې د کور په سر
قا قا چې کوې تۀ به وائې زوئے دې نن مړ شوے دے
ټوله ورځ الوځې مرداري راټولوې او خورې
خپله خو لا څۀ کړې په بچو هم دا ګندونه خورې
چرته خو صفا صفا خوراک کوه چې سپين شې تۀ
هسې دې ځان مړکړو په ډېران پسې سم خوړين شولې
وخورې مرداري مېنځوکه زمکه پسې راکاږې
بيا لکه بادشاه په هوا والوځې د کبر نه
نۀ درلره څۀ شرم نۀ حيا شته نۀ غېرت کوې
بس خو په هر ځائے کښې د اخلاقو بغاوت کوې



www.pukhto.net

سپین مُلا ته غُل په سپین قمیص کوې د برې نه
نو خدائے به دې تباه کړي واؤره تهٔ ددې خبرې نه
ښنګ چې تهٔ بدرنګ ئې داسې نور دې هم بچي کارغان
مړه په دنیا کښې خو نور هم دي ښهٔ ښائسته مارغان
خو اے کارغهٔ! یوه خبره واؤره دا کم عقله مې
ته چې پیدا کړي کوم یو رب ئې هغه لوئے دے ډېر
ما او تا ئې دواړه په دنیا چې پیدا کړي یُو
نو څهٔ نه څهٔ مقصد به ئې وو چې دواړه ئې داسې کړي یُو
تهٔ په هوا ګرځې او چې مړ شې نو بس ختم شې
ما سره خو خدائے خبر چې څهٔ به کړي ابیۍ زمکه
تهٔ خو مرداري وخوري مښو که پس اوښنډې
زهٔ خو ئې هم خورمه او هم پرې نور خلق ګنده کړمه
بس دے یار تهٔ ښهٔ شولې زما نه په عمل کښې ډېر
زهٔ په خپل غرور او تکبر کښې یم د سره تېر

۳/۵/۲۰۱۳ء



www.pukhto.net

***

کم عقل خاندي او هوښيار به ژاړي
هر چې عاشق وي بې اختيار به ژاړي

چا کۀ په ژوند چرته ژړلي نۀ وي
مينه دې اوکړي ښۀ بسيار به ژاړي

څوک کۀ د سود زيان په قيصه پويه شو
د دنياګۍ په هر بازار به ژاړي

چا کۀ منزل د کور د يار وليدۀ
خدائيګو چې هر وخت په دې لار به ژاړي

ناصح کۀ ووينې خپل نيت آئينه کښې
نو ډير بې کچه خطا وار به ژاړي

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

ورځ د محشـــــر کـــــۀ کلـــــه ولګېـــــده
ډېـــر بزرګـــان او مـــونږ ګــذار بـــه ژاړي

ناصـــره مـــۀ کـــوه د ځـــان خبـــرې
ستا پـه شـان هـر يـو ګنـاه ګـار بـه ژاړي

۲۰۱۳ء/۵/۲۹



www.pukhto.net

# غانګې او لولکه

کله غانګې ته کله ګورمه لولکې ته
فن او هُنر دواړه بس په دوئي ښکښې تمام شوي دي
يو رنګينه مسته ده الوځي په ښائسته ګلو
بله مقبرو کښې د شينکي دپاسه ملاسته وي
يو لکه دنچکې بوډۍ شل رنګونه اړوي
بله تکه توره شنه شمغتهٔ په ځائے ناسته وي
يو رنګين مزاجه وي شوخي کوي مستي کوي
بله په تور رنګ شرمېږي اخوا د ښخوا نهٔ ګوري
خو کلکه د بدن نه وي متاکه لکه غوز وي دا
لولۍ خو هسې جاله د جولادومره نازکه وي
بيا د تورې مينه هم دنيا ښکښې مشهوره ده
سپينه او رنګينه خو بس هسې په نامه ښکلې
نهٔ ئې رانيوے شې نهٔ ئې لاس ښکښې لوبولے شې
توره کلکه غانه خو بس وله او را وله نو

امجد حسين ناصر

www.pukhto.net

نۀ ئې ملا ماتېږي نۀ ئې پښې خورې ورې دړومې
نۀ ئې په ځټ درد راځي او نۀ ترې نه وزر وځي
بس پرېږده لولکۍ د هوا شي په هوا خوند کوي
او توره غاټکۍ په زمکه ښۀ وي چې د زمکې وي

۲۰۱۳ء / ۲ / ۴



www.pukhto.net

***

په خپله نـه وي مـا خمـار کـړي جانـان
داسې ښائسته ښائسته ګفتار کړي جانان

څوک کـه ټول عمر بيمار شوي نـه وي
د زړه پـه رنـځ بـه ئې بيمار کړي جانـان

زړه پـه سـينه کښې مې ټوپونـه وهي
چې په سرکو شونډو اظهار کړي جانان

بيا بـه مې زړه لکـه مهـے ترقبـږي
بيا څه پـه دا ډول سنګار کـړي جانان

سترګې ليندی بانه کړي غشي خدايه
بيا شونډې سرې لکـه انار کـړي جانان

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

يو بې رخي مې کړي خزان په زړګي
بيا يو مسکا پرې سم بهار کړي جانان

يو نظاره وي د کتو په ارمان
ګل په خندا چې راګذار کړي جانان

ناصر ئې خو ځله کړو خرڅ په بازار
د انسانانو کاروبار کړي جانان

۲۸/۵/۲۰۱۳ء



www.pukhto.net

***

کۀ مې پاګل کۀ مې مجنون کۀ دیوانه یادوي
جانان به بیا مې پس د مرګه ډېر په ښۀ یادوي

جانان ښائسته دے ځکه خلق ئې دیدن له راځي
زۀ خو تېر شوے خاورې شوے ما به څۀ یادوي

مسافري او مزدوري زړۀ سترې پرېباسلو
د ښار په مېنځ کښې ځکه کورکلے کوڅه یادوي

د پنجابي او د سندهي نه طمع ولې ساتې
ټوله دنیا خو په غېرت کښې پښتانۀ یادوي

په ښار کښې خلق کړي قیصې د محلونو بنګلو
ناصر نادان پکښې د خپل کلي حجره یادوي

۱۲ / ۵ / ۲۰۱۳ء

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

***

څـه ده څـه ده زنـدګي ترنـګ د سـتار دے
يـا بـې وسـه بـې وسـي ده يـا خمـار دے

يـا مسـتي شـي يـا نيسـتي بنـي آدم تـه
چـا چـې تېـره پـه پستۍ کړلـه هوښـيار دے

کـوم سـړي چـې د خـدمت لاره کـړه خپلـه
بس هـم دغـه يـو سـړے دے چـې دکـار دے

چـا چـې طمـع د مخلـوق د دره پرېښـوه
د هغـه سـړي خـو مـل پروردګـار دے

نـور او نـار خـو لا قيصـې د هغـه جـان دي
خپـل عمـل دلتـه کښـې هـر چـا تـه انګـار دے

امجد حسين ناصر

www.pukhto.net

ژونـــد تېـــرول دي پـــه دنيـــا د بـــل دپـــاره
د همــــــاؤ کتـــــابونو دا ګفتـــــار دے

د ناصــر لـــه خلــې بـــه څـــۀ نصـــيحت واؤري
چې پـه ټـول جهـان کښې بس يـو ګناهګار دے

۲۷/۴/۲۰۱۴ء



www.pukhto.net

***

ستړګې ئې خوړل لکه خامار کوي
سپینه خلۀ خندا ئې زړۀ کښې لار کوي

خدایه ما ئې ځار کړې د وړو شونډو
بیا وړې وړې ګیلې مې یار کوي

چا وئیل ولاړ مې په کوځه کښې وو
نن لکه تپوس د خپل بیمار کوي

دا خو مې جانان په کور کښې جوړه کړه
هر سړے راتلۀ چې په دې لار کوي

لاس کښې د دشمن خو کاڼي نشته دے
دا به چرته دوست وي چې ګذار کوي


www.pukhto.net

ویـــل ئـــې رامئـــین شـــه چـــې بربـــاد دې کـــړم
ګـــورئ اوس ملګـــرو چـــې انکـــار کـــوي

زړۀ ناصـــره مـــات د میـــرې هـــم نـــۀ کـــړې
مـــا خـــو اوریـــدلي چـــې ازار کـــوي

۲۰۱۲ء/ ۴/ ۲۵



www.pukhto.net

# د بابا قبر ته

يو اواز مې هم تر غوږو نۀ شو ستا
ډېر بې وخته بابا بېل شولې ما له ما
خړو خاورو دې مضبوط بدن کړو خاورې
کاش چې دا دې سلامت وې په دنيا
ډېر ياران مې کوي فخر په پلارانو
بې له تا مې بله نۀ وي مدعا
ستا د يو ,, بچيه ،، ځار به شم سل واره
کۀ چا يو ځلې راستون کړې له عقبا
ما خو بيا موندۀ جنت د مور په پښو کښې
بې له تا به ځنګ د رب اخلم رضا
لا پېدا نۀ ووم چې ستا وې سترګې پټې
زۀ به چاته وايم چې لاړاؤښايا
زۀ به ټول عمر ورانې نه توبه وکړم
کۀ تا يو ځل راته ووې ,, مۀ کوا ،،

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

اے بابــا تــهٔ څــهٔ خبــر ئــې د بــې بــې نــه
درې دیــرش کالــه ئــې تېــر کــړي پــه ژړا
زهٔ خــو اوس یمــه زلمــے د خدائےپــه فضــل
دوه منیــزې بــوجی ورلــے شــم پــه شــا
مــور مــې هــر رنــګ مینــه مالــه ده راکــړې
خــو بابــا ســتا مینــه رانــه کــړه هیچــا
ژوند مې تېول سخته محنت دې کهٔ ئې ګورې
تــهٔ خــو لاړې زهٔ دې پرېښــودم تنهــا
ســتا نامــه بــه کړمــه دا رنګــه روښــانه
بیــا جنــت کښــې تېــوي بــه مــې پــه مــلا
کــهٔ تــهٔ نــهٔ وے زهٔ بــه نــهٔ ووم څــهٔ چــې یمــه
دا خــو تېــول د ے برکــت ســتا د دعــا
خپل ناصر ګورئ پرې نهٔ ږدئ په محشر کښې
ډېــر بــې وســه بــه ولاړ وي وارخطــا

۱۵ / ۴ / ۲۰۱۳ء


www.pukhto.net

## زما زلمے پېښور

په کومه خلۀ به یادوې پېښور
دا چې تۀ نن تالاکوې پېښور

خدایه دا څۀ نظر پرې اولګېدو
شو لېونے او سپېلنے پېښور

بس که ظالمه لاس دې وباسه نور
دا ولې اور ته غورځوې پېښور

په ورانېدو ئې ځکه ناست یم دلګیر
ځواني مرګ مرې زما زلمے پېښور

دا پښتنو په ډېر محنت جوړ کړے
ولې د ګل هسې رژې پېښور



www.pukhto.net

دا د اغیار جنګ چرته بل خوا یوسه
زمونږ پرې ولې سوځوې پېښور

د څو پیسو او د ډالر دپاره
ظالمه ولې شرموې پېښور

دښمنه خدائے دې داسې وژړوه
څنګ چې زمونږه ژړوې پېښور

بدل به هیڅ تا تـه پرې نـهٔ ږدي پښتون
د ابدالي نامتو نوسې پېښور

ناصره کله به ئې هېر نهٔ کړمه
د خپل ژړګي مازیګرے پېښور

۷ / ۲ / ۲۰۱۳ء



www.pukhto.net

## ګډې وډې

څوک له جانان مرور
څوک کړي ګيلې له دنيا
څوک له مذهب نه منکر
څوک وائي بد په مُلا
څوک په عذاب د عمل
څوک په نيتونو کښې ګير
څوک وي راګېر په زور زبر
څوک ګرفتار د زلفو
څوک وي ازاد د فکر
څوک په کښې خوري د مفتو
څوک ئې ګټي په ذکر
څوک به ئې خوري په نصيب
څوک په محنت ئې ګټي
څوک به جوړېږي رقيب
څوک به ئې شونډې څټي
څوک به وي ناست رڼا کښې

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

څوک به تیرو کښې ګرځي
څوک به په څۀ سودا کښې
څوک به په څۀ شي ورځي
څوک د بېلتون په غم کښې
څوک د وصال په مزو
څوک د جانان په چم کښې
څوک په لالچ د پئیو
څوک وي پراته په رباب
څوک به وي خوښ په شپېلۍ
څوک وي اوچت له افتاب
څوک به وي سپک له سیلۍ
څوک په مزاج وي رنګین
څوک وي ساده تهیلا دار
څوک به وي تور لونګین
څوک به ترسکون مزیدار
څوک فلسفي پېدا وي
څوک وي جاهل له موره
څوک به عادت په غلا وي
څوک به وي مور د کوره
څوک لري سپینه کوکۍ


www.pukhto.net

څوک غم رنګه به وي
څوک به له ونې کچې
څوک به د رنګه به وي
څوک په نرتوب تیروي
څوک بې غیرته به وي
څوک به ښهٔ خوئي چلوي
څوک به له ژونده تښتي
څوک به راګیر شي پکښې
څوک به کوټه په بخت ئې
څوک به ناصر شي پکښې
څوک بې اصلته به وي
تقسیم د لوئے الله دے
که ئې منې خو ښهٔ ده
ګني بس ګرځه پسې

۲۰۱۳ء/ ۳/ ۲۴



www.pukhto.net

***

په زړهٔ داغونه راکړي بيا پسې اوبهٔ راکوي
ظالم جانان راله سزا آخر په څهٔ راکوي

خوږې خبرې به ئې کولې او مسکې به شوله
سودا د زړهٔ ده ماله اوس به پکښې زړهٔ راکوي

ما ئې لاس ښکل کړو او دې ووئيل چې ستا يمه زهٔ
نن د غماز دلاسه غم د بېلتانهٔ راکوي

جانان ته ووايئ ملګرو چې بدنام به دې کړي
رقيب په جار باندې وئيل چې نن به خلهٔ راکوي

ناصر په زړهٔ کښې کرم ريبم چې جانان پردے شو
اوس چې په خپله خوري خوارهٔ ماله تراخهٔ راکوي

۲۳ / ۳ / ۲۰۱۳ء



www.pukhto.net

## تاله څه او ماله څه ؟

د کم عقل هوښيارتيا
بده لګي په هر چا
د هوښيار کم عقلتوب
وي خالي د سرپيتوب
د خوبانو محبت
لکه بې ګوړې شربت
مونځ ګذاره ريا کار
لکه بې ديارۍ خرکار
د جاهل سره ياري
د شيطان تابعداري
د مغرورو عاجزي
لکه چرګ د اوښ بچي
د غريب سره مستي
لکه خر د اس په ځي
کچ ماشوم له بادیوه
او غټ خر له کيچاوه



www.pukhto.net

بس عاشق له خپل جانان
کبدې له پهلوان
ګل له څاڅکي د شبنم
ما له هر سبا د غم
بس که بس که دا قیصه
کله اور کله لمبه
زۀ به منم د خپل زړۀ
تۀ چې هر څۀ کړې کوه
ما له هېڅ مۀ راکوه
خو د ډکې خُلې خندا
تۀ دنیا دې چلوه
په ما ئې مۀ راتیتوه
دو مره زور دې نۀ لرم
دا دے اوس دلته کښې مرم
زۀ ناصر به څۀ کوؤم
کۀ تا داسې پرېښودم

۲۰۱۳ء/ ۳/ ۲۳



www.pukhto.net

***

جوړې سپرلي شو توتکري لور په لور الوځي
رنګ د ګلاب کلي کښې هر ځائے کور په کور الوځي

خلق خو رنګ د سپرلي شين او زير په خُلهٔ يادوي
جانان چې کله وي خوشحاله رنګ ئې تور الوځي

د رقيب چرګه هم کلک سترګې وي سندرې وائي
زمونږه زرکه هم د يرې د ښغور الوځي

پلار مې نن بيا پټي کښې زمکه اړوي په ايوه
د كاريزو ګلونه ځکه مې په کور الوځي

جانانه ياد مې هغه وخت شي تا چې ويل به راته
په خيال راکوز شه دا کونترې ډير په شور الوځي

د عقل باز دې په کچه عمر کښې کړو په هوا
دا خو لا هيڅ نهٔ دي ناصره لا به نور الوځي

۲۰ / ۳ / ۲۰۱۳ء

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

***

خــــو چـــــې کلــــــه ورګـــــــډېږم
پـــــه بـــــازار د عشـــــق ورکېـــــږم

خلـــق مـــې بـــولي بـــې غېرتـــــه
چـــې د يــــار پــــه لاس خرڅېــــږم

چـــې پـــــه لار د ژونـــــدون ورشـــــم
بـــــــس تــــــاوېږم راتـــــــاوېږم

کلـــــه فکـــــر پــــــه مرګـــــي کـــــړم
د ښـــــــخ خوبـــــــه راوېښـــــــېږم

چـــې پېـــدا خـــاورې کېـــدو لــــه
نـــو بيـــا ولـــې ګـــلاب کېـــږم

پـــه مـــزو چرچـــو چـــې ســـر شـــم
پـــــه والله کـــــۀ پـــــرې مړېـــــږم

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

کلـــه کلـــه ســـور کمـــر شـــم
د هجـــران پـــه اور وریتېـــږم

د خـــزان وهلـــے ونـــه
ســـتا پـــه غـــم داســـې وچېـــږم

نیســـتۍ دومـــره یـــم وهلـــے
د مســـتۍ پـــه خـــر ســـورېږم

د خپـــل خیـــال پـــه دنیـــاګۍ کښـــې
د هـــر چـــا پـــټ پـــټ وســـېږم

زهٔ کـــم عقـــل لېـــونے یـــم
چـــې د یـــار پـــه خـــوا تیرېـــږم

عجیبـــه شـــانې ژونـــدون دے
چـــې پـــوهېږم پـــرې ســـوزېږم

بـــس دے نـــور ســـوچونه نـــهٔ کـــړم
ناصـــر وائـــي زهٔ خفـــه کېـــږم
۲۰۱۲ء / ۲ / ۱۳


www.pukhto.net

***

ښوک کوي د سُر ښوک د ښکلا قیصې
راشه ما نه واوره د اشنا قیصې

توري وي کۀ سپینې کۀ بدرنګه وي
هر چا ته خوږې وي د لیلٰی قیصې

اوس یمه زلمے سبا بوډا به شم
دوه ورځې د ژوند د انتها قیصې

اوس خو به دې اوښکې په ګرېوان ورځي
ولې اورې دلې دې زما قیصې

اوس خو هر سړے ځان ته مجنون وائي
ښوک به اوس کوي زما او ستا قیصې

خپل مې کړه اشنا کۀ درنه مړ شومه
ډېرې به مې جوړې شي په شا قیصې
۲۰۱۲ء / ۱ / ۷

امجد حسین ناصر

www.pukhto.net

***

زړۀ چې پاګل شي نو جانان غواړي
هر يو ارمان پسې ارمان غواړي

زۀ به جانان پسې ژړېږمه نه ؟
هر زړۀ چې خوږ شي نو درمان غواړي

دا په طبيب او مسيحا نۀ کېږي
د زړۀ علاج زړۀ د انسان غواړي

خلۀ مې پيرى کښې په رحمان شوه شورو
خو زړۀ مې هغسې شيطان غواړي

ناصره ستا د وس خبره نۀ ده
مينه وفا خو لېونيان غواړي

۲۲ / ۱ / ۲۰۱۳ء

هري پور



www.pukhto.net

٭٭٭

شـــرنګ د بنګـــړو او غـبـــږ د جانـــان
ځـــواني روانـــه ده وخـــت دے روان

وخـت ځـۀ بـې وختـه غـم راپـه سـر کـړو
ځـــۀ د ژونـــدون غـــم ځـــۀ د هجـــران

هـــم لیـــونے یـــم او هـــم مئـــین یـــم
نـــۀ یـــم پـــه ګټـــه نـــۀ پـــه تـــاوان

راځـــه چـــې اوکـــړو مُـــلا دوه ګوټـــه
بیـــا بـــه قیصـــې کـــړو د ســـود او زیـــان

دواړه کیـــوتي وو د عشـــق پـــه جنـــګ کښـــې
زړۀ مـــې عـــالم شـــو زۀ مُـــلا جـــان

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

قیصه د ژوند ده هر څوک ئې ګوري
څوک مسلمان شي او څوک انسان

زهٔ ګناه ګار یم د سلو کالو
پروردګار مې ډېر مهربان

خوا کښې ئې کښېنه په لاس ئې ښکل کړه
ناصر د څو ورځو دے بس مهمان

۲۰۱۳ء / ۱ / ۲۷

Pukhto.Net
پښتو



www.pukhto.net

سـنـد ر ه

زۀ دې پـه وړې خنـدا مئـين كـړم اوس كنځـل كـوې
سـترګو كښـې خنـدل كـوې
وه وړې جينـــــــــــــــــې

مـۀ كـړه اشـارې لـه ورايـه ولـې مـې پرېباسـې زړۀ
زۀ تـا زۀ مئـين پـه خنـدا ولـې مـې وباسـې زړۀ
اور مې په زړۀ بل كړې چې مسكې مسكې كتـل كـوې
سـترګو كښـې خنـدل كـوې
وه وړې جينـــــــــــــــــې

سـتا كچـه ځـواني او زمـا ډېـر زلمـي خيالونـه دي
زمـا سـوې ځـواني ده هـم مـې ډېـر سـوي سـوچونه دي
تـۀ څـۀ پـه مكيـز مكيـز د زړۀ پـه سـر ويشـتل كـوې
سـترګو كښـې خنـدل كـوې
وه وړې جينـــــــــــــــــې



www.pukhto.net

لاس د مینـــې را جینـــۍ وعـــده راســـره اوکـــړه نـــن
تـــول عمـــر زمـــا شـــه دا وعـــده راســـره اوکـــړه نـــن
ووایــه چې خـوب بـه مې تـول عمـر پـه ښنګـل کـوې
سـترګو کښـې خنـدل کـوې
وه وړې جینـــــــــــــــــــــۍ

اپریل ۲۰۱۲ء



www.pukhto.net

***

نـــهٔ ســــکندر د زمـــاني نـــهٔ افلاطـــون ګټلـــي
پښتـــتو هيچـــا نـــهٔ ده ګټلـــي بـــس پښتـــتون ګټلـــي

د زړګي سر کۀ مې په داؤ کښې د جانان اېښے دے
رقيـــب بـــائيللے خـــو اخـــره کښـــې ښلتـــون ګټلـــي

تـهٔ مې غـزل شـه بيا مې ګوره چې شاعر يـم کـه نـه
ستا خو په مينـه کښې نامـه مې د مجنون ګټلي

يتيمـه هـر څـومره کـهٔ تـهٔ غېـرت پـه يـار زبـاتوي
خو يوې کونډې ستا غېرت په خپل کوتتون ګټلي

ناصـره وبائيلـه دا جنـګ انـا دې ماتـه کـړه نـن
خـدائيګو کـهٔ هيچـا پـه انـا کښـې پښوستون ګټلي

۲۹/۱۰/۲۰۱۲ء

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

***

تـــهٔ خـــو ئـــې روان خـــو لـــږ ودرېـــږې نـــه؟
وختـــه مـــا تـــه لـــږ شـــان ايســـا رېږې نـــه ؟

يـــاره تـــهٔ خـــو ډېـــره مـــوده پـــس راغلـــې
نـــن راســـره شـــپې تـــه پـــاتې کېـــږې نـــه؟

کـــور او ګـــور او کلـــې راتـــه يـــو دي ټـــول
يـــه رقيبـــه بـــس کـــه نـــور ســـمېږې نـــه؟

شـــو پـــورې بـــه غـــم د بـــې وفـــا زغمـــې
مـــات زړګيـــه بـــس کـــه تـــهٔ صـــبرېږې نـــه؟

يـــار خـــو دې د بـــل پـــه ســـينه خـــوب کـــوي
يـــه عاشـــقه تـــهٔ لېـــونې کېـــږې نـــه؟



www.pukhto.net

مـرګ خـو مـې تيـار پـه مېلمسـتيا وي تـل
ژونـده چرتـه تـۀ مـې مېلمـه کيـږې نـه؟

ولـې پـه غـرور ناصـره ژونـد کـوې
تـۀ بـه چرتـه چاتـه محتـاجيږې نـه ؟

۲۰۱۲ء/ ۲ / ۴



www.pukhto.net

# لټون

ژوند د جهان ، بس ناتمام
بس نا تمام دے بس ناتمام

نۀ به ئې شل کړې نۀ به ځلوبنت شي
په چا ولاړ وي په چا روان
بس نا تمام دے بس ناتمام

سپوږمۍ روښانه ، ترنګ د رباب
د سیند په خوا کښې ، یاد د جانان
بس نا تمام دے بس ناتمام

سکنې مابنام وو ، تیرې خورې شوې
نۀ دیدن اوشو او نۀ کلام
بس نا تمام دے بس ناتمام

امجد حسین ناصر

www.pukhto.net

چاته قرار وي شوک بې قراره
ته مور په وصل، زۀ په هجران
بس نا تمام دے بس ناتمام

سحر د ګل خُلۀ، د خندا ډکه
بیا مرغېژن وي ګوره مابنام
بس نا تمام دے بس ناتمام

ناصره بس که لټون ئې پرېږده
چا دي موندلي خپل خپل خدایان
بس نا تمام دے بس ناتمام
ژوند د جهان، بس ناتمام

۲۰۱۲ء/ ۱/ ۲۵



www.pukhto.net

***

هاغــه مــې خوښــېږي دا مــې خــوښ نــۀ دي
مــنم د بادشــاه ګــدا مــې خــوښ نــۀ دي

څـوک چـې زمـا خـوښ دي زۀ ئـې خـوښ نـۀ يـم
زۀ چـې د چـا خـوښ يـم آ مـې خـوښ نـۀ دي

بلـــه مېخانـــه ســـاقي را وښـــايه
څکم خو به ئې څکم خو ستا مې خوښ نۀ دي

يــو جانـان او يــو د جانـان غـم وي بــس
زړۀ کښــې يــو ســاتم بلهــا مــې خــوښ نــۀ دي

ډېــرې مــې عرضــې د تولــو يــوړې خــو
بــس دے اوس لالاکاکــا مــې خــوښ نــۀ دي

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

ژاړمـــــه چـــې اورمـــــه غزلـــــې ئـــــې
هســـې ويـــم غنـــي حمـــزه مـــې خـــوښ نـــۀ دي

ښنګـــه مُـــلا جـــان پـــه منـــډو تـــرړو دے
دۀ خـــو وې دولـــت دنيـــا مـــې خـــوښ نـــۀ دي

اورمـــــه ناصـــــر زۀ د هـــــر چـــــا کـــــلام
لـــيکم خپـــل غـــزل د چـــا مـــې خـــوښ نـــۀ دي

۸ / ۸ / ۲۰۱۴ء



www.pukhto.net

***

هلکـــان دې لېـــوني کـــړل ماشـــومان دې لېـــوني کـــړل
ســـترګې مـــۀ تـــوروه يـــاره عاشـــقان دې لېـــوني کـــړل

مـــلا نـــرۍ لکـــه لينـــده دې ، غشـــي ولـــي د مکيـــزه
بيـــا را اوتـــي دي د کـــوره بوډاګـــان دې لېـــوني کـــړل

شونډې سرې په رنګ د وينوخدائے زده کوم عاشق حلال شو
يـــه معصـــوم ظـــالم قاتلـــه ، معصـــومان دې لېـــوني کـــړل

لال ګـــوهر بـــدن دې مـــاتې ، د جنـــت حـــورو تـــه ورکـــړه
ســـينه پټـــه کـــړه دلـــداره ، جنتيـــان دې لېـــوني کـــړل

چې خنـدا پـه سپينه خلـۀ کـړې د ګـل پـاڼې تـرې دوړېـږي
شـــونډې مـــۀ ســـپړه ګلابـــه ، ماليـــاران دې لېـــوني کـــړل

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

سپين غاښونه دې زرقون دي کۀ غولۍ د جام د مئيو
مۀ پړقيږۀ د خندا نه ، شرابيان دې لېوني کړل

ستا مستي ستا شنهار ، ستا اواز د بنګړو راغے
درته ناست دي په کوڅه کښې بنجاريان دې لېوني کړل

خدائے خبر د کومې راغلې پړق د تندر د آسمان ئې
د ناصر غوندې حساسه ، شاعران دې لېوني کړل

۱۴ مئی ۲۰۰۹ء


www.pukhto.net

## زما اولنۍ غزل کوم چې د فیض محمد مظلوم صیب په طرحه وو .

څوک چې په سپینه لمن تور واخلي
هله به مینه کښې سرور واخلي

یار چې په سپینه خلهٔ خندا کړي کله
طوفان زما زړهٔ په هر لور واخلي

دا ستا نازونه او ادا جانانه
زړهٔ کښې زما ځان له یو کور واخلي

وایم چې تاته مې کتے هر وخت
ورسره زړهٔ زما ټکور واخلي

ستا محبت کښې به همېش دلبره
ناصر د هر چا نه پېغور واخلي

۲۴ اګست ۱۹۹۴ء
بابو بلډنګ درګئ بازار



www.pukhto.net

***

خدايــه كلــه بــه زۀ اوويـــنم جانـــان خپـــل
پــه ژړا ژړا مـــې لونـــد كړلـــو ګرېـــوان خپـــل

چـــې پــه غوڅــو شــونډو نــوم د جانــان اخلـم
ځــان لاهــو كړمــه د مينـې پـه طوفـان خپـل

مــا هـــم فخـــر د جانـــان پـــه وفـــا اوكـــړو
لكه ښنګ چې بلبل ناز كړي په بوستان خپل

تــا رټلـے جــواب راكـــړو پــه ســرو شــونډو
زړۀ كنبې كور دې راله وران كړو د ارمان خپل

يــار پخپلــه د خپــل لــوظ نــه منكـــر دے
ناصـــر ښنګـــه ملامـــت اوګڼـــي ځـــان خپـــل

۲۲ نومبر ۱۹۹۵ء



www.pukhto.net

***

چې مې کله اشنا ستا په لور نظر شي
زړۀ مې غوڅ ستا د مژګانو په خنجر شي

کله مې کړي رانه پټ په تورو زلفو
کله بيا ئې کړي ښکاره په ما اختر شي

دا سزا ده که معراج د مينې بولي
دوه مئين چې د خپل کوره در په در شي

چې په خلۀ کوي انکار زړۀ کښې اقرار کړي
داسې کس خو دې تباه په لر و بر شي

زۀ ناصره ورته دعا کوؤم تل عمر
شپه او ورځ راته خيرې د خپل دلبر شي

۲۳ دسمبر ۱۹۹۵ء

امجد حسين ناصر

www.pukhto.net

***

د بل خیالونه وي د یار په زړهٔ کښې
تل وي خوشحاله پرې اغیار په زړهٔ کښې

په دې سوچونو کښې مې شپه تېره شي
د یار صبا به وي انکار په زړهٔ کښې

په خلهٔ ئې نهٔ وایم چې ولې ژاړم
پټ مې بلېږي سُور انګار په زړهٔ کښې

چې ئې رایادې ناکړدې شي د یار
رقیب ترې هم شي توبه ګار په زړهٔ کښې

ناصر په دار شو په فریب د مینې
څکه خو اوژړل اغیار په زړهٔ کښې

یکم جنوري ۱۹۹۴ء



www.pukhto.net

***

د تورو سترګو کجل نه شومه
ښه شوه چې قتل په مقتل نه شومه

ګلان تازه شو د سپرلي په هوا
افسوس افسوس د سپرلي ګل نه شومه

چې ئې عاشق په تورو سترګو وومه
نصيب مې ښه وو چې پاګل نه شومه

خلق نغمه شولو د يار په شونډو
زۀ مې د خپل غزل نه شومه

خپلو مې ټول پردي کړل خپل په مينه
خو زۀ ناصر د خپلو خپل نه شومه

۱۹ فروري ۱۹۹۴ء



www.pukhto.net

***

کۀ هزار ځله رسوا شي زۀ ئې څۀ کړم
پس د مرګه که زما شي زۀ ئې څۀ کړم

د جانان ښکلې خندا چې پکښې نۀ وي
د جنت حورې کۀ را شي زۀ ئې څۀ کړم

چې ساه ګانې مې په پورته شي روانې
کۀ د رنځ طبيب مې را شي زۀ ئې څۀ کړم

کۀ زما ئې خو دا سر مې ترې قربان شه
يار په بل که مې شېدا شي زۀ ئې څۀ کړم

چې ئې تول عمر ناصر دے دړدولے
ظالم يار کۀ په خندا شي زۀ ئې څۀ کړم

۴ فروري ۱۹۹۲ء

***

راکـــړه ســـاقي راکـــړه شـــراب را کـــړه نـــن
ډکـــه د جـــامونو پېمانـــا کـــړه نـــن

غـــم د مينـــې څـــۀ وو ښـــاد پـــه غـــم شـــومه
مـــا چـــې د دنيـــا هـــر کـــار تـــه شـــا کـــړه نـــن

بـــس دے ســـتمګره ظلـــم مـــۀ کـــوه
لـــږه غونـــدې مينـــه را خـــو را کـــړه نـــن

يـــه ريبـــاره واخلـــه نـــيم ژونـــدون زمـــا
مـــا ســـره زمـــا اشـــنا پخـــلا کـــړه نـــن

کېـــږدوه ناصـــره ســـر پـــه مينـــه کښـــې
يـــار ســـره وعـــده خپلـــه رښـــتيا کـــړه نـــن

يکم اګست ۱۹۹۴ء



www.pukhto.net

***

مغــــرور زمـــا ښـــکلې دلبـــره نـــۀ شـــې
ســـنګار کـــوې خـــو د نظـــره نـــۀ شـــې

اشـــنا بانـــۀ کـــړل بيـــا اوچـــت د ســـترګو
پـــام کـــړه زخمـــي مـــې د زړۀ ســـره نـــۀ شـــې

اوره د يـــار غـــم لـــه مـــې تينګـــه ورکـــړه
حوصـــلې نـــن راتـــه اوتـــره نـــۀ شـــې

زړګيـــه ډوب وي ســـمندر د مينـــې
چرتـــه ورګـــډ چـــې بـــې ګـــودره نـــۀ شـــې

ناصـــره ســـوال د ديـــدن اوکـــړه يـــار تـــه
نـــن دې واپـــس د يـــار د دره نـــۀ شـــې

۳ اکتوبر ۱۹۹۴ء



www.pukhto.net

***

هم مې د زړۀ درد ئې هم د ټکور د زړۀ
چرته خو مې واوره ياره شور د زړۀ

غر مې ستا د غم په سر اخستے دے
مۀ رابار کوه غمونه نور د زړۀ

ور دې کړو رخصت رقيب له نن که نه ؟
زر وايه اشنا مې کړه اور د زړۀ

سترګې دې خنجر دي زړۀ مې غوڅ شي پرې
نرمې تو دې شونډې دې ټکور د زړۀ

غېبره دې رقيب له ډکه کړې ده
نۀ شمه ويستے دغه پېغور د زړۀ

ستا تشه خندا وه لاړه تېره شوه
وران دې کړو غريب ناصر له کور زړۀ

۲۱ اپريل ۱۹۹۷ء

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

***

تـهٔ چـې نـهٔ کـوې نظـر زمـا پـه بـاب
خـدائے دې سـتا مينـه لاهـو کـړي پـه دريـاب

زهٔ خـو سـتا د هجـر غـم يمـه وهلـے
ځکـه رنـګ مـې د بـدن شـولو کبـاب

ستا سـرې شـونډې د رقيـب دي زمـا نـهٔ دي
هسـې وائـي سـتا دپـاره دي شـراب

زهٔ پـه ښـو درتـه پرېـوځم اوس مـې معـاف کـړه
مـا در اولېـږو ريبـار پـه سـوال جـواب

ښـکلي چرتـه د چـا خپـل شـي ناصـر خانـه
د وفـا طمعـې عبـث کړلـې خـراب

۲۳ دسمبر ۱۹۹۲ء



www.pukhto.net

***

لکه طفل ژړېدم په توره شپه کښې
سوزېدمه د هجران په سره لمبه کښې

په هر لور راته جانان جانان ښکارېږي
زۀ چې ناست يم جام په لاس په مېخانه کښې

نۀ خبرې نۀ خندا راسره يار کړي
خلق څۀ څۀ نۀ کوي په يارانه کښې

په دې څو ورځې ژوندون کښې دومره پوهه شوم
وفا نشته هر سړے دے په دهوکه کښې

خوا له ورشه غېږ ترې تاؤ کړه راپرې ووځي
ناصر بيا ځانګي راځانګي په نشه کښې



www.pukhto.net

***

ليلىٰ د شپې څومره ښائسته ښکاري
څۀ د سپوږمۍ يوه ټکره ښکاري

دا مې ليلىٰ ده په ځوانۍ راغلې
دا چې له ورايه سره لمبه ښکاري

د يار په سرو اننګو سرو شونډو کښې
ګوره زما وينه توده ښکاري

زلفې ئې داسې راخورې وي هر وخت
مخ ئې سپوږمۍ په توره شپه ښکاري

راته ښکارېږي چې سپرلے راغے
ځکه خزان خو پستنه ښکاري

امجد حسين ناصر

www.pukhto.net

مینـــه پـــه زړه کښـــې چـــې دې نـــۀ وي چاتـــه
دوه ګـــــــزه لاره هـــــــم اوږده ښـــــــکاري

چاتـــه بـــه تـــول وي نـــۀ ماســـه وي جانـــان
ماتـــــه د ټـــــولې دنیـــــا ښـــــۀ ښـــــکاري

ناصــــر خـــــو ډک زړګـــــے د مینـــــې لـــــري
ولـــــې هـــــر چـــــا تـــــه داســـــې نـــــۀ ښـــــکاري

۲۵ اپریل ۱۹۹۷ء



www.pukhto.net

***

د یار مینې څۀ په داسې رنځ رنځور کړم
خورم او څکم غمونه داسې ئې مجبور کړم

تۀ زما د مینې څۀ خبر ئې یاره
زۀ خو ستا مینې د هر سړي تربور کړم

په تهمت باندې د مینې هله رنګ شوم
د یار مینې چې په دار باندې منصور کړم

د خانانو مخکښې خپلې بې وسې مې
زۀ د ځان په تشدد باندې مجبور کړم

خلقه سوال مې د یارۍ جانان قبول کړو
ځکه زۀ خو ئې د تورو سترګو نور کړم

دا پوره وه چې د عشق ګناه مې اوکړه
زۀ ناصر به یاره بل لاکوم قصور کړم

۲۳ اپریل ۱۹۹۷ء

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

# زما د ډېر خوږ ملګري جاوېد مخلص په طرحه غزل

هجران څهٔ چې دې وصال راپورې اور شي
ستا کاتهٔ راته په سپینه لمن تور شي

ستا د مینې غم مې هغه وخت کاواک کړي
خوږه یاره په احساس چې مې راخور شي

په تدبیر باندې تقدیر کله بدلېږي
ورځ د وصل د اشنا او شپه په ګور شي

زلزلې چې د معشوق د نظر را شي
لوټې لوټې د مئین زړګي پرې کور شي

زړهٔ لاهغسې پرهر د ناصر پروت دے
خدایه کله به دوه شونډې ئې ټکور شي
۸ جون ۱۹۹۷ء


www.pukhto.net

***

خـــوک چـــې د عشـــق د مرحلـــو نـــه اوځـــي
خـــوب ئـــې د ســـترګو د ککـــو نـــه اوځـــي

زۀ پـــه وفـــا بـــه ئـــې قايـــل هلـــه شـــم
غـــم چـــې د يـــار مـــې د لېمـــو نـــه اوځـــي

وخـــت بـــې جانانـــه تېـــرول داســـې دي
لکـــه مهـــے چـــې د اوبـــو نـــه اوځـــي

غمونـــه ورو ورو دې پـــه شـــا شـــو داســـې
زور د اوبـــو چـــې د چپـــو نـــه اوځـــي

ناصـــره ســـترګې دې خـــالي دي داســـې
لکـــه شـــراب چـــې د کاســـو نـــه اوځـــي



www.pukhto.net

***

لاچې سور اورئې د لمبه سترګو بل شوے نۀ وي
داسې اودۀ وي لکه هېڅ چې څۀ چل شوے نۀ وي

د يار د سرو شونډو په سر باندې نازکه مسکا
لکه غوټۍ چې د ګلاب پوره ګل شوے نۀ وي

د ژوند په لار يواځې تګ به درته ګران پرېوځي ډېر
تر څو اشنا مينه زما چې دې مل شوے نۀ وي

دا ستا د مينې غم کښې چرې اشنا مړ به نۀ شم
لاچې مرګے مې راته لار کښې اجل شوے نۀ وي

ناصره ستا په نصيحت چرې هوښيار به نۀ شي
د يار په مينه کښې چې څوک هم عقل شوے نۀ وي



www.pukhto.net

***

د اورونـــو او لمبـــو بـــه څـــۀ قيصـــې وي
د ليلــىٰ ســترګې چــې کلــه ســرې لمبــې وي

نــورې شــپې خــو پــه مثــال يــو ه ګــړى وي
خــدائے زده ولــې د فــراق دا شــپې اوږدې وي

خــدائے خبــر دے چــې آزار دے کــۀ خېــره ده
زمکــه کــوم ځــائے چــې تــوده وي زمــا پښــې وي

پــه کــوم ځــائے چــې د غېــرت پــه نــوم وي قتــل
پـــه هغـــه ځـــائے د پښـــتون وينـــې پرتـــې وي

پتنګـــان دي چـــې پـــه مينـــه لېـــوني دي
ځــان پرې هر ځــائے قربانــۍ خــو چې شغلې وي

تـــۀ د چـــا نـــه بـــه ګيلـــه کـــوې ناصـــره
چـــې دې خپلـــې د قســـمت کرښـــې کـــږې وي
۲۲ جون ۱۹۹۷ء



www.pukhto.net

# د يو زلمي ارمان

دا ارمـــان مـــې دے اشـــنا چـــې زۀ او تـــۀ وے
او فکرونـــــه د دنيـــــا راســــــره نـــــۀ وے
څـۀ پـــه زړۀ چـــې وي زمــونږ هغــه پــه خلـۀ وے
تـــۀ زمـــا پـــه تصـــور کښـــې او ســـتا زۀ وے

مـــا شـــراب د خمـــارو ســـترګو غوښـــتلے
تـــا جامونـــه تـــرې پـــه مخـــه ډکـــولے
ستـا د لاسـه مـې پـه غـرپ غـرپ بانـدې څکلے
نـــور څـــۀ نـــۀ وے هـــم هغـــه مينـــه زړه وے
تـــۀ زمـــا پـــه تصـــور کښـــې او ســـتا زۀ وے

زۀ لـــه تـــا نـــه زاريـــدلے تـــۀ زمـــا نـــه
نـــۀ جانانـــه ويريـــدلے د هيچـــا نـــه
تـــۀ مـــې غېـــږې لـــه راتلـــے د خپـــل ځانـــه
تـــول غمونـــه مـــو د ژونـــد نـــه پســـتنه وے
تـــۀ زمـــا پـــه تصـــور کښـــې او ســـتا زۀ وے

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

دواړه ناست وې خنګ په خنګ د وصال شپه کښې
ښکلولې مې ستا سرې شونډې نازکې
ډېر يادونه مې درکړي وې تحفه کښې
دغه شپه چې د وصال مو ښه اوږده وې
ته زما په تصور کښې او ستا زۀ وې

دا زۀ نۀ وايم جانانه لېونتوب کښې
ما ليدلي وو دا هر څۀ خو په خوب کښې
رانښيلي دي وو ماته ماشومتوب کښې
نور څۀ نۀ غواړم بس ته چې راسره وې
ته زما په تصور کښې او ستا زۀ وې

ته د مينې سمندر زۀ ئې ساحل يم
خبر د مينې راکوه درته سائيل يم
ستا ناصر يم ياره هغسې عادل يم
زړۀ مې غواړي چې په خلۀ مې صرف ته وې
ته زما په تصور کښې او ستا زۀ وې
۲۹ اګست ۱۹۷ء


www.pukhto.net

✹✹✹

ګيلــه نــۀ کوؤمــه ســتا نــه ، وه زمــا خــوږۀ جانانــه
خپلو خو يم خفه کړے ، زړۀ مې بد دے د خپل ځانه

خبـر کـۀ تـا رالــه رانکــړۀ حوصــله د خپلــې مينــې
دا زړګے به کړم نور صبر ، ستا د مينې نه هم ستانه

که حال نۀ راځي په خلۀ مې خلق کتاب مې د مخ لولي
چــې د زړۀ دنيــا دننــه مــې پرتــه ده ټولــه ورانــه

يـار چې خپـل نۀ کړمه لاړو، پـه خندا غبـرګې د بـل لـه
ځان به ټول عمرخپل نۀ کړي، وي پردے به دخپل ځانه

تـۀ پخـلا شـه ګنـې خلـق بـه ټـول ژاړي دا بـه وائـي
چــې ناصــر غريــب خــو لاړو ارمــاني ددې دنيــا نــه

۱۰ ستمبر ۱۹۹۷ء

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

***

طمعه د شپې ئې وه راکړې خو بېګا رانغے
یخ د صبا بادونه راغلهٔ خو اشنا رانغے

ما خودروغ دروغ ګڼله چې نن بیا به راځي
د غریبۍ کور ته اشنا مې په رښتیا رانغے

چې انتظار مې ځو ځو کاله دا راتلو ئې اوکړو
هغه باران مې د زړګي په چمن بیا رانغے

د زړهٔ په رنځ باندې اخته یم ترې نه مرم په شمه
ډېر بدقسمته یم تر اوسه مسیحا رانغے

په اوچو شونډو چې د یار ښکنې مسکا ښکاره شي
داسې بهار دې ناصر جانه په دنیا رانغے

۱۸ دسمبر ۱۹۹۷ء

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

***

احساس او ارمانونه چې د فن مې شو په زړۀ کښې
دا ځکه اوس تاوېږم لکه درد هره نغمه کښې

وصال د مینې خوند وي ورسره مینه زیاتېږي
خو مینه لا زیاتېږي د اشنا په بېلتانهٔ کښې

مرګے خو صرف یو ځل هر انسان له مقرر وي
زۀ سل ځله قتلېږم د فراق په یوه شپه کښې

تا بند کړل دیدنونه زۀ د زړۀ په رنځ اخته شوم
ما مۀ په ګودر ګوره زۀ پرته یم په کالهٔ کښې

اشنا دومره شوخي او ستم مۀ کړه هسې نه چې
په سترګو د ناصر پسې بیا ګرځي ادیره کښې

۲۲ دسمبر ۱۹۹۷ء



www.pukhto.net

## ګپې شپې ---

خدایه تا پیدا آدم کړو
په خپل روح دې تازه دم کړو
بیا حوا چې دې پیدا کړه
تا وعده خپله رښتیا کړه
تا حوا له حسن ورکړو
بیا آدم [۴] دې پرې مئین کړو
تا چې مینه ورکړه دوئي له
دوي جنم ورکړو یو زوئے له
بیا دې لور ورته پیدا کړه
چې ئې زوئے ته په نکاح کړه
بیا له دوئي نه چې پیدا شو
ککړ ورو ورو په ګناه شو
او چې زۀ ترې نه پیدا شوم
تک د واره په ګناه شوم
او دا ځکه چې تا ماله
یو زړګے راکړو لېواله



www.pukhto.net

تـــا دنیـــا تـــه حســـن راوســـت
بیـــا دې زړۀ تـــه لګـــن راوســـت
دغـــه حســـن مـــې زړۀ غـــواړي
مینـــه مینـــه مـــې زړۀ غـــواړي
راتـــه هـــر ســـړے قـــاربږي
وائـــي چـــې خـدائے پـرې غصـه کېـږي
نـــۀ کنځـــل مـــې چاتـــه کـــړي
نـــۀ بـــد رد مـــې دي وئیلـــي
زۀ خـــو صـــرف مینـــه غـــواړم
خـــدائیګو مینـــه ســـپینه غـــواړم
خدایـــه! دا خـــو راتـــه وایـــه
خدایـــه! زر شـــه راتـــه وایـــه
چـــې دروغ درتـــه مُـــلا وائـــي
او زمـــا کتـــاب ربښـــتیا وائـــي
مینـــه تـــا ده پیـــدا کـــړې
زړۀ دے تـــا مـــا لـــه راکـــړے
زۀ پیـــدا کـــړم صـــرف تـــا
او اختیـــار مـــې دے هـــم ســـتا
تـــۀ مـــې وژنـــې چـــې مـــړ کېـــږم
تـــۀ مـــې روغ کـــړې چـــې رغیـــږم



www.pukhto.net

زۀ چې څۀ کړم دا خو تۀ کړې
وایه تۀ هم مینه نۀ کړې؟
مُلا کړي نصیحت ماته
دے ئې ولې نه کړي تاته
نۀ شي هیڅ وئیلے تاته
بس لګیا وي هر وخت ما ته
لږ دے پوهه دا مُلا کړه
ګنې هر څۀ ته مې شا کړه
ما له صرف حسن ډېر دے
باقي هر شے خو ګنده پر دے
ما له ډېره مینه راکړه
او یو زړۀ بې دینه راکړه
زړۀ یو داسې درنه غواړم
چې پرې هیڅ کله نۀ ژاړم
داسې زړۀ کړه راعطا
چې پرې اووینمه تا
ما ویل ستا رضا ترې غواړم
د مُلا خلوت ته لاړم
مُلا تا خو راته نۀ ښئی
راته چل ول د مانځۀ ښئی



www.pukhto.net

دے وائي خدائے که چرې ګورې
تهٔ به ځې د کعبې پورې
ویم په خدائے کهٔ هلته لاړ شم
کهٔ ستي شم که لتاړ شم
دې خپل زړهٔ کښې به دې ګورم
تاته کله چې هم ګورم
ځان کهٔ تهٔ راته راښائې
زما زړهٔ کښې به راښائې
ګنې بل خوا تللے نهٔ شم
په مانځهٔ اودرېدے نهٔ شم
خېر جنت درنه نهٔ غواړم
صرف مینه درنه غواړم
وایه مینه به دې راکړې؟
کهٔ ژوندون به مې تالاکړې؟

۱۸ فروري ۲۰۰۲ء


www.pukhto.net

## ګلستان

یوه ورځې شوم ورګډ په ګلستان
په هر لوري وو ولاړ ښائسته ګلان
د ګلاب ګل د رامبېل او د چامبېل
ور پکښې وو تول ګلونه د جهان

هر یو ګل په شان د نمر هسې ځلېږي
د ګلاب په سر اورونه سره بلېږي
څوک په څاڅکو د شبنم باندې لمبېږي
نمر پرست ګوري په لوري د آسمان
ور پکښې وو تول ګلونه د جهان

ما یو څو قدمه واخستل په ناز
چې ناساپه مې تر غوږو شو یو ساز
زړۀ مې لاړو په هوا لکه د باز
د اختیار نه اووتمه د خپل ځان
ور پکښې وو تول ګلونه د جهان

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

زړۀ مې لاړو زۀ ولاړ يمه حېران
بې خودۍ کښې سوچ راتېنګ کړمه د ځان
خير يو څو قدمه لاړمه پرېشان
چې ناساپه شوم ورګډ په پرستان
ور پکښې وو تول ګلونه د جهان

زړۀ مې نۀ وو خو بوتې مې وه روانه
او هغه هم څۀ وه روغه او څۀ ورانه
چارچاپېره نظر اړووم حېرانه
يوه جونه ښکلې راغله په مسکان
ور پکښې وو تول ګلونه د جهان

وائي بابا په پرستان راپېښ شوې څنګه
جونه ښکلې ښکاريده نازکه دنګه
غټې سترګې مرۍ سپينه وه د رنګه
ما وئيل چې يم راغلے په ارمان
ور پکښې وو تول ګلونه د جهان

راته وائي دلته هيڅ غم چې اونۀ کړې
تپوس نشته دے کۀ بد کوې کۀ ښۀ کړې
راته اووايه چې اوس به دلته څۀ کړې



www.pukhto.net

ما وئيل زما پکار دے يو جانان
ور پکښې وو تول ګلونه د جهان

نو بيا څۀ ګورم چې راغلې ډېرې جونې
څۀ وې پېغلې څۀ د چا نه پاتې شونې
ځوک په مخه ځوک په شا باندې راستونې
راته ګورې چې پيرے دے که انسان
ور پکښې وو تول ګلونه د جهان

ګير چاپېره رانه تولې اودريدلې
ځوک نزدې وې ځوک له ورايه خنديدلې
سپينې تورې غنم رنګې ځليدلې
وطنۍ وې ځينې وې د انګلستان
ور پکښې وو تول ګلونه د جهان

يوه مسته غوندې راله زما خواله
ډېره ډېره خنديدله وه خوشحاله
وائې زړۀ راکوې ماله که بل چا له
ما وئيل زۀ شوم عاشق ستا په مُسکان
ورپکښې وو تول ګلونه د جهان

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

پاس ولاړ مې په هوا کښې د زړۀ باز
دے د ورايه خنديدو لکه غماز
وائي چې تۀ خو هر وخت ماته ئې موتاز
ګران به نۀ شې که تۀ ما نۀ ګڼې ګران
ور پکښې وو ټول ګلونه د جهان

وائي زۀ څۀ کوؤم ناره او تۀ څۀ کړې
څۀ چې زۀ غواړم هغه تۀ ولې نۀ کړې
داسې مۀ وايه چې څۀ کوې نو ښۀ کړې
زما نۀ منې او منې د خپل ځان
ور پکښې وو ټول ګلونه د جهان

۱۱ فرورې ۲۰۰۳ء



www.pukhto.net

# زهٔ او ژوند

د تیرو نه هم ویرېږم — د رڼا نه هم ویرېږم
د جهانه هم ویرېږم — د خپل ځانه هم ویرېږم
چې رڼا وي یم خوشحاله — هم تیرو ته خوشحالېږم
چې غریب یم نو خفه یم — چې مالدار شم بیا ژړېږم
چې ګدا یمه بادشاه شم — چې بادشاه شم فقیر کېږم
چې آقا یم نو ظالم یم — چې غلام شم بیا تنګېږم
چې نهر یمه نو موړ شم — خو موړ شوے نهرېږم
چې وفات یم نو حیات شم — چې حیات شم وفات کېږم
چې انسان یم نو خفه یم — چې شېطان شم خوشحالېږم
چې ثواب یمه نو بېچ یم — چې ګناه شمه سوزېږم
چې مندر یم نو آباد یم — چې جومات شم تالاکېږم
چې معصوم یم هم سزا شم — ګناهګار هم سزا کېږم
چې جاهل یم په سکون یم — چې عالم شم بربادېږم
چې مستي شم نوهستي شم — چې هستي شم پناه کېږم
چې شراب شم نو خمار شم — چې خمار شمه بیا خېژم
چې یم ورک نوراپېدا شم — چې پېدا شم بیا ورکېږم

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

چې رباب شمه نو ساز شم
او چې ساز شم بیا خوربږم

چې نفرت یم نو ښئه ډېر یم
چې شم مینه لا زیاتېږم

چې خوشحاله یم خفه یم
چې خفه شم خوشحالېږم

خدایه ژوند دې ولې راکړو
چې ژوندے یم نو سوزېږم

پس د مرګه به پوهېږم
چې ژوندے یم نۀ پوهېږم

زۀ د مرګه نه شرمېږم
نۀ مې خوښ نۀ ترې وېرېږم

ژوند خو لاړو دومره تېر شو
لا تېرېږي پرې کړېږم

په معنٰی ئې پوهه نۀ شوم
ژوند خو وائي زۀ تېرېږم

خو زۀ ویم زۀ پاتې کېږم
خو زۀ ویم زۀ پاتې کېږم



www.pukhto.net

***

ځنګـــه دې دنیـــا ده او دا ځنګـــه ئـــې روزګـــار
چرته کښې چې نۀ کار دے نو هلته کښې ستا کار

دلتـــه یـــو معصـــوم زړګـــے پـــه مینـــه ګرفتـــار
هلتـــه کښـــې هـــم دغـــه زړۀ بیـــا ګڼـــي ګناهګـــار

یو طرف ته وائي غوړونه بند کړه سترګې اوګنډه
بـل طـرف تـه حسـن دې جـوړ کـړے وي چغـار

یـو خـوا دې میـوې مـزې چرچې او سرۀ جامونـه دي
بـــل خـــوا دې تـــړلے یـــم د ټـــول عمـــر نهـــار

یو دې ځواني راکړه بل دې زړۀ دمستۍ ډک راکړو
بیـــا دې پکښـــې را وویســـت د جنـــت دوزخ بیوپـــار

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

يو خوا يو بوډا کړي په ځوانۍ مستي ترې اوباسي
بل خوا يو بوډا به دې کښېږ نه نې په قلار

ځومره بې معنې دے ژوندون ټولو له جوړ کړے دے
سوچ او ژوندون څۀ دي وريتېدل دي په انګار

سوچ او ژوند چې يو ځائے کړې بچو د بني آدم ته
سم ترې ورته جوړ کړې څۀ نهنګ يا څۀ ښامار

کله مې پلار اخلي کله مور ته مې مرګ اوښندېږ
دواړه راته ګران دي کۀ مې مور ده کۀ مې پلار

چا نه چې تپوس اوکړم چې زړۀ لوئے دے کۀ خدائے
سر په ګډو وډو شي بيا وائي استغفار

ښکله دې ناصر عجيبه رنګ انسان پېدا کړلو
سحر وي صحتمند ماښام راځي کور ته بيمار

۲۳ اپريل ۲۰۰۷ء



www.pukhto.net

***

نـــــهٔ عــــالم نـــــهٔ فلســـــفي يــــم
پـــــه مثـــــال د جـــــټ ســــړي يــــم

عـــــاجزۍ کښــــــې لګـــــه ګـــــډه
پـــــه غـــــرور د ازمـــــري يـــــم

پـــــه نـــــور ســـــتا د ســـــترګو پـــــايم
ســـــتا پــــه زلفـــــو تيزنـــــدي يـــــم

اوچـــې شـــونډې جـــام تـــه ناســـت يـــم
څـــــهٔ کـــــم عقـــــل شـــــرابي يـــــم

نـــــهٔ مړيـــــږم پـــــه قســـــمونو
څـــــهٔ ناترســـــه خـــــوراکي يـــــم

امجد حسين ناصر

www.pukhto.net

خــــدائے ســــره مــــې یارانــــه ده
ځکــــه یــــاد پــــه لیــــوني یــــم

زۀ ناصــــر هــــېڅ پوهــــه نــــۀ شــــوم
چــــې شــــاعر کــــه شــــاعري یــــم

۱۲ نومبر ۲۰۰۲ء



Pukhto.Net
پښتو
www.pukhto.net

***

راځئ چې اوکړو فېصله چې څوک به څۀ پاکوي
هر يو سړے به د کور مخې ته کوڅه پاکوي

د خپلې ساه سره چې سترګې د ظالم اوباسو
خپله چاړۀ به بيا زمونږ په لمن نۀ پاکوي

زمونږ د کلي خان سبق له ښارته زوئے استوي
او د غريب بچي به تل دوي له حجره پاکوي

دا خو د خان بچي پليټ ډک د املېټو پرېږدي
غريب نهر وي د نيستۍ نه چې کاسه پاکوي

خانان ئې جوړه کړي خو مونځ ته پکښې نۀ اودرېږي
مُلا پخپله هر مانځه ته مدرسه پاکوي

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

دا ځومره ګنډ په دې وطن کښې چې اغيار خوروي
تـــاريخ ګــواه دے هميشــه ئــې پښتــانه پــاکوي

ناصـــره تـــل اورو متـــل د مشـــرانو داســـې
چا چې جـوړ کـړي نـهٔ وي غُـل هغـه ئـې نـهٔ پـاکوي

۲۱ اګست ۲۰۱۴ء



www.pukhto.net

***

اور مــې پــه زړهٔ بــل کــه ســترګې تــورې کــه
نــن خــو مــې پاګــل کــه ســترګې تــورې کــه

اوخانـــده لـــه ورايـــه پـــه شـــا لاړه شـــه
زلفـــې دې ول ول کـــه ســـترګې تـــورې کـــه

شـــونډې تـــورې تـــورې پـــه ګـــور ګـــورو کـــه
خـــور پـــه ســـر اوربـــل کـــه ســترګې تـــورې کـــه

بـــــل دې کـــــه اورونـــــه اننګـــــې لمبـــــې
لار مـــې پـــه ځنګـــل کـــه ســـترګې تـــورې کـــه

زهٔ ناصــر غمجــن خــوښ يــم پــه مينــه کښــې
مـــا پـــه غـــم جلبـــل کـــه ســـترګې تـــورې کـــه

۷ جنوري ۲۰۱۰ء



www.pukhto.net

***

تا چې به پښتو ما به غېرت کوؤ
یاد دې شي چې مونږ به محبت کوؤ؟

مانه به خفه شوې د غماز په خوله
درې ګېنتې پوره به دې نفرت کوؤ

تورې به دې ډکې په رانجو کړلې
بیا به دې په سترګو شرارت کوؤ

زۀ په انتظار او تۀ اوده به وې
تل به دې هم هغه خپل عادت کوؤ

ستا پلو تړلو چې په سر به مې
ژوند به مې اشنا څۀ په همت کوؤ

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

ما بـه دې لاسـونه ښـکلول هـر وخـت
خـومره پـه حنـاء بـه دې محنـت کـوؤ

تـا چـې بـه لاس کېښـودو پـه شـونډو مـې
چُـپ بـه شـوم کـۀ ډېـر مـې شـکايت کـوؤ

اوس بـې وفـائي خـوئي د ناصـر شـولو
ټـول عمـر د يـار چـې ئـې صـحبت کـوؤ

فروري ۲۰۱۱ء



www.pukhto.net

## هیڅ پوهه نۀ شوم

پوهــــه نـــۀ شـــوم پـــه دنیـــا
چـــې ور مـــخ کړمـــه کـــه شـــا

ځـــوک ســـپین ږیـــۀ بـــولي ځـــوک تـــور
دغـــــه واخلمـــــه کـــــه دا ؟

یـــا بـــوجۍ د ګـــورې ډکـــه
خـــو بـــس لاس تـــرې تاوهـــا

نـــۀ ئـــې تـــول شـــته نـــۀ ئـــې تـــال
خـــر بنـــو لـــه کیجـــاوا

فلســـــفیانو لـــــره خـــــوب
مُلایـــــانو لـــــه حلـــــوا
مزدورکـــــار لـــــه مـــــزدوري

**امجد حسین ناصر**

www.pukhto.net

نوکرانـــــو لــــــه تنخــــــوا

خـــدائے صـــبر چرتـــه بـــه رســـي
خــــو بـــــس منـــــډه ده وهــــــه

ځــوک ئــې پــوئې پــه پتــه نــهٔ شــو
چـــا لـــه بـــده چـــا لـــه ښـــا

د ناصـــــر پــــه برخــــه راغلـــــه
دنیـــــا تولــــه ځــــهٔ ترخـــــا

یکم مارچ ۲۰۱۴ء


www.pukhto.net

***

زلفـــې دې لمــــدې دي ول پـــه ول جينـــۍ
ګـــورې لمـــدې ونـــې د ځنګـــل جينـــۍ

بيـــا پـــه دنداســـه دې کړلـــې شـــونډې ســـرې
بيـــا دې جـــوړ د حســـن کـــړو محفـــل جينـــۍ

ولـــې مـــې پرېباســـې پـــه ســـينه کښـــې زړۀ
مـــۀ کـــوه نخـــرې دې پـــه اوربـــل جينـــۍ

زړۀ مـــې نـــۀ صـــبرېږي مـــازيګر شـــولو
بيـــا را اوځـــه ګـــودر تـــه پـــه څـــۀ چـــل جينـــۍ

تـــۀ راتـــه قيصـــه د شـــېربانو کـــوه
زۀ بـــه دې اودۀ کـــړم پـــه ښنګـــل جينـــۍ

امجد حسين ناصر

www.pukhto.net

لاس مې په زړهٔ کېږده راته اووايه
خپل به نهٔ کړم ستا په شانتې بل جينۍ

څه کنه په مينه راتر غاړوځه
در به کړمه سُور د ګلاب ګل جينۍ

زهٔ ناصر خو ډېر هوښيار سړے وومه
خدائيګو چې ستا مينې کړم پاګل جينۍ

دسمبر ۲۰۰۱ء



www.pukhto.net

***

نــــن د پـــــرون او د صــــبا خبـــــري
جانـــان تـــه اومـــې کـــړې صـــفا خبـــري

زر پـــرې خفـــه شـــي چـــې څـــۀ اووايمـــه
د جانــــان بـــدې شـــي رښـــتيا خبـــري

برنـــد برنـــد کاتـــۀ کـــړي چـــې خبـــرې کـــوي
ځکـــــه کوۀمـــــه وار خطـــــا خبـــــري

ډېـــرې خبـــرې مـــې پـــه زړۀ پرتـــې دي
خــــو زۀ اول بـــــه واؤرم ســـــتا خبـــــري

پــــه پرهرونـــــو ئـــــې پټـــــې لګـــــوؤم
مجنـــــون تـــــه کړمـــــه د ليلـــــیٰ خبـــــري

ناصـــــره غـــــم د آخـــــرت کـــــړه اول
وروســــتو کــــوه بيــــا د دنيــــا خبــــري

۲۹ اګست ۲۰۱۴ء

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

***

پښتون به مرم پښتون ژوندے په پښتونخوا آباد یم
پښتونه ستا په قام نسب چې یم په تا آباد یم

که پنجابیان سندهیان ئې مني او که نۀ ئې مني
خو په دې ملک کښې زۀ په زور د خپل بابا آباد یم

تاریخ راواخله د چنګېز او د تیمور نه ورانه دې
زۀ د هندوانو هم په دې خاوره پخوا آباد یم

د کوم ظالم په ناکړدو ډوب په تیرو کښې شولې
یه پیښوره زۀ خو تل ستا په رڼا آباد یم

د پلار حجره خو ښۀ په ناز ساتم د کور مخې ته
او د نیکۀ د لوئې جوماته لر په شا آباد یم

ناصر که ډېر شمه غریب یا په نیستۍ کښې پېدا
زۀ پښتون تل په دې دنیا په الاالله آباد یم
۳۰ اګست ۲۰۱۴ء



www.pukhto.net

***

شوخي او نازکي د کابلۍ جينۍ منه
مستي د پېښورۍ او مردانۍ جينۍ منه

کۀ چين ته پسې ځې سفر عبث به ورپسې وي
په ملا کښې نرۍ دنګه چترالۍ جينۍ منه

کۀ پوست وجود دې خوښ وي نو په سوات کښې پسې ګرځه
کۀ کلکه پسې ګرځې بيا روسۍ جينۍ منه

مئين کۀ په ختکه شوې دا زړۀ به درله وچئ
په مينه به دې موړ کړي مروتې جينۍ منه

بچو له کۀ ئې کړې روره مومنده ښځه اوکړه
يارۍ له کۀ ئې کړې ابېټ بادۍ جينۍ منه

**امجد حسين ناصر**

www.pukhto.net

کۀ وې چې غونډه مونډه وي هر وخت مې په ترخ کښې
يار په داسې کار له جاپانۍ جينۍ منه

کۀ هسې دل لګي کړې نۀ وادۀ نۀ يارانه
په دې کښې بيا په سر کښې نوښارۍ جينۍ منه

مالداره په بهر ساته چې زړۀ دې وي خوشحاله
کۀ کور کښې ئې کينې د غريبۍ جينۍ منه

ناصره بس دے مۀ ګرځه د ښځو په دنيا کښې
منې کۀ نۀ منې پاکستانۍ جينۍ منه

۲۰۱۴ء / ۷ / ۱۱



www.pukhto.net